د بشري حقونو لپاره
د ملګرو ملتونو
د عالي کمیشنرۍ دفتر

د افغانستان لپاره
د ملګرو ملتونو
مرستندویه پلاوی

# د شکنجې مخنیوی او د توقیفیانو د حقونو رعایتول په افغانستان کې: د سولې لپاره یو عامل



**فبروری۲۰۲۱، افغانستان**

# د مطالبو فهرست


**د راپور لنډيز**............................................................................................................4

**۱. مخينه** ..........................................................................................................7

**۲. ميتودولوژي** ..................................................................................................9

۲. ۱. د توقيف ځای د څار ليدنې ...............................................................9

۲. ۲. د معلوماتو د راغونډولو نورې لارې چارې ..........................................9

۲. ۳. د مرکې تضمينونه او لارې چارې ...........................................................9

۲. ۴. د ثبوت معيار او احصائيې..............................................................10

**۳. حقوقي چوکاټ چې په افغانستان کې شکنجه او ناوړه چلند منع کوي** .......................12

۳. ۱. د شکنجې منع................................................................................12

۳. ۲. د شکنجې او ناوړه چلند د منع اجراآتي تضمينونه.................................12

۳. ۳. د شکنجې تورونو ته غبرګونونه 13

۳. ۴. د شکنجې او ناوړه چلند د قربانيانو لپاره جبران..................................14

**۴. د شکنجې او ناوړه چلند په اړه موندنې**.......................................................15

۴. ۱. عمومي موندنې ..........................................................................15

۴. ۲. افغان ملي پوليس ..........................................................................15

۱ بکس: په کندهار کې اجباري ورکيدنې....................................Error! Bookmark not defined.

۴. ۳. د ملي امنيت رياست ....................................................................18

۴. ۴. افغان ملي اردو .............................................................................19

۴. ۵. د محبسونو د تنظيم اداره.................................................................20

۴. ۶. له ازادۍ څخه محروم شوي ماشومان ..................................................21

۴. ۷. د شکنجې او ناوړه چلند طريقې.........................................................22

۲ بکس: د شکنجې او ناوړه چلند د طريقو په څير د سترګو تړل او سر ته کڅوړه اچول.......23

**۵. د شکنجې او ناوړه چلند مخنيوې لپاره اجراآتي محافظتونه** ..............................25

۵.۱. د حقونو په اړه معلومات.....................................................................25

۵.۲. مدافع وکيلانو ته لاسرسی.....................................................................26

۵.۳. له کورنۍ سره اړيکه .........................................................................28

۳ بکس: انفرادي او تجريد شوي توقيف ......................................................29

۵.۴. په وخت سره طبي معاينه .................................................................30

۵.۵. د اسنادو په محتوياتو د پوهاوي څخه پرته د هغو لاسليک کيدل ........................31

**۶. څارنه، تفتيش او حساب ورکونه**...............................................................33

۶.۱. د داخلي ميکانيزمونو نقش.....................................................................33

۶.۲. د لويې څارنوالۍ په چوکاټ کې د شکنجې ضد کميټې نقش او د شکنجې د قضيو څېړنه او عدلی تعقيب 34

۶.۳. نمونوي قضيې.....................................................................................34

**۷. سپارښتنې** ...........................................................................................36

د ولسمشر دفتر ته......................................................................................36

د قانون حاکميت عالي شورا ته......................................................................36

د عدليې وزارت ته .....................................................................................36

پارلمان ته 36

سترې محکمې ته........................................................................................37

لويې څارنوالۍ ته .......................................................................................37

د کورنيو چارو وزارت ته ..............................................................................37

د ملي امنيت رياست ته ...............................................................................38

د دفاع وزارت ته .......................................................................................38

د زندانونو د چارو ادارې ته ..................................................................................... 38
د عدلیې وزارت ته .......................................................................................... 39
**لومړۍ ضمیمه: د نړیوال قانون له مخې د شکنجې او ظالمانه، غیر انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا د نورو شکلونو ممنوعیت** .............................................................................................................................. 40
**دویمه ضمیمه: د ولایاتو په اساس د موندنو ویش** .............................................................................. 42
**دریمه ضمیمه: د افغانستان دولت ځوابونه** ..................................................................................... 56

s

## لنډیزونه

| | |
|---|---|
| ANA: | افغان ملي اردو |
| ALP: | افغان سیمه ییز پولیس s |
| ANP: | افغان ملي پولیس |
| DFiP: | په پروان کې افغان ملي توقیف ځای |
| JRCs: | د ژنکو د اصلاح او تربیت مرکزونه |
| MCPC: | د عسکري جزا قانون |
| MOI: | د کورنیو چارو وزارت |
| NDS: | د ملي امنیت ریاست |
| OHCHR: | د بشري حقونو لپاره د ملگرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر |
| UNAMA: | د افغانستان لپاره د ملگرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) |

Cover photo by Reuters

# د راپور لنډیز

د نړیوال او ملي قانون له مخې شکنجه او ناوړه چلند منع دي. د قانون د نافذوونکو چارواکو له خوا دغه ډول ترسره شوې کړنې په ادارو کې د بې باورۍ د خپرولو له لارې د قانون واکمنۍ کمزورې کوي. دغه راپور، چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر له خوا صادر شوی، په افغانستان کې د امنیت - یا تروریزم اړوند جرمونو[1] په تړاو له ازادۍ څخه د محرومو کسانو[2] د شکنجې او ظالمانه، نا انساني او له سپکاوي ډک چلند یا سزا (تر دې وروسته د ناوړه چلند په نامه یادیږي)[3] د عمومیت په اړه معلومات برابروي. یوناما او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر له خوا ترسره شوې څارنه په ډاګه کوي چې د ادعاوو په کچو کې له کموالي سره سره د شکنجې او ناوړه چلند استعمال او کړنې چې د دواړو نړیوال او داخلي قوانینو له مخې منع شوي د افغان دولت په حراست کې شتون لري. سربیره پر دې، حقوقي او اجراآتي تضمینونه - د نړیوال او داخلي قوانینو له مخې توقیفیانو، شکمنو او تورنو کسانو ته ګڼ تضمین شوي حقونه - په کافي ډول نه دي تطبیق شوي.[4]

دا شپږم مهالنی راپور دی چې د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر له خوا د امنیت - یا تروریزم اړوند جرمونو لپاره له ازادۍ څخه د محروم شویو کسانو سره د چلند په اړه خپور شوی. له ۲۰۱۱ راهیسې ، د افغانستان دولت په همکارۍ ، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر ، د هیواد په کچه، د دولت په توقیف ځایونو کې، د دغه ډول خلکو سره د چلند څارنه کوي. د دغه مودې په جریان کې، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ملي امنیت ریاست په توقیف ځایونو کې د شکنجې ادعاوو کې کمښت ثبت کړی ، پداسې حال کې چې دا ډول کمښت د افغان ملي پولیسو تر توقیف لاندې کسانو په اړه لږ لیدل شوی.

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د امنیت - یا تروریزم اړوند جرمونو لپاره له ازادۍ څخه له ۶۵۶ محروم شویو کسانو سره مرکې ترسره کړې چې په دې کې ۵۶۵ سړي، ۶ ښځې، ۸۲ هلکان او ۳ نجونې شامل و. د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر د بشري حقونو افسرانو په ټول افغانستان کې په ۲۴ ولایتونو کې په ۶۳ توقیف ځایونو کې مرکې ترسره کړې. زیات شمیر مرکه ورکوونکې مخکې تر دې چې د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر له خوا مرکه شي، په ګڼ شمیر توقیف ځایونو کې ساتل شوي وو. په پای کې د ۶۵۶ مرکو له لارې یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د توقیف ۱۴۵۸ قضیې ثبتې کړې.[5]

دغه راپور د ۲۰۱۹ کال د جنوري له لومړۍ نیټې څخه د ۲۰۲۰ کال د مارچ تر ۳۱ نیټې پورې د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر له خوا د امنیت - یا تروریزم اړوند جرمونو لپاره له ازادۍ څخه د محروم شویو کسانو سره د چلند د څارنې موندنې خلاصه کوي. د ۲۰۲۰ کال د مارچ په لومړیو کې په افغانستان کې د کوویډ - ۱۹ وبا په خپریدو سره،[6] یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د

---

[1] په عمومي ډول دغه جرمونه د جزایي اجراآتو د قانون د لومړۍ ضمیمې له خوا تر پوښښ لاندې نیول شوي، کوم چې د دغه قانون له خوا تر پوښښ لاندې نیولو شویو جرمونو د شکمنو اشخاصو لپاره یوه استثنایي طرز العملي موده برابروي. دا د جزا د قانون د ۲۳۸ (ملي خیانت) مادې، ۲۳۹ (ملي خیانت) مادې، ۲۴۰ (جاسوسي) مادې، ۲۴۱ (سخته جاسوسي) مادې، ۲۴۴ (د ډیپلوماتیکو اړیکو په ضد جرمونه) مادې، ۲۴۸ (د نقلیه وسیلو یا تاسیساتو ویجاړول) مادې، ۲۴۹ (د پیسو یا ګټې ترلاسه کول مادې، ۲۵۴ (د داخلي جګړې راپارول) مادې، ۲۷۹ (د تروریزم تمویل) مادې او ۲۸۰ (د تروریزم تمویل) د مادې له مخې جرمونه ګڼل کیږي. د جزایي اجراتو د قانون د لومړۍ ضمیمې ۱ ماده وګورئ.

[2] په دغه راپور کې "له ازادۍ څخه د محرمونو کسانو" اصطلاح هغو کسانو ته راجع کیږي چې په مشخصو جرمونو شکمن، تورن یا مجازات شوي وي او د چارواکو په نظارت/حراست کې وي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د میتودولوژۍ برخه وګورئ.

[3] د شکنجې د منع کنوانسیون له مخې د شکنجې تعریف د نن سبا په عمل کې تر ټولو زیات یاد شوي او معتبر تعریف دی: شکنجه هر هغه عمدي عمل دی چې له امله یې سخت درد یا کړاو که جسمي وي یا رواني رامنځ ته شوی وي په دې موخه چې له یوه شخص یا د دریم شخص څخه د معلوماتو یا اعتراف د ترلاسه کولو، یا د یو عمل لپاره چې شخص یا دریېم شخص ترسره کړی وي یا یې پر ترسره کولو تورن وي شخص ته د سزا ورکولو، یا د شخص یا د دریم شخص د تهدیدولو یا اړ ایستلو یا د هر ډول تبعیض پر بنسټ د بل هر دلیل په موخه ترسره شوي وي، په داسې حال کې چې هغه د یوه دولتي چارواکي یا په رسمي ظرفیت کې د یوه بل شخص له خوا، یا د هغه په ملګرتیا یا د هغه په رضایت ترسره شوی وي. په دې کې هغه درد یا کړاو نه دی شامل چې په ذاتي یا ضمني ډول له قانوني بندیزونو څخه رامنځ ته کیږي. د شکنجې یا نورو ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا د منع کنوانسیون (د شکنجې د منع کنوانسیون) ۱ ماده. ظالمان، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا ("ناوړه چلند") همدارنګه حقوقي اصطلاحګانې دي کوم چې هغه چلند ته راجع کیږي چې د کړاو مختلفې اندازې اړوني کومې چې نه باید د مشخصو موخو لپاره واړول شي. د غړو هیوادونو له خوا د ۲ مادې د تطبیق په اړه د شکنجې د منع کمیټې، ۲ شمیره عمومي تبصره (۲۰۰۸)(CAT/G/GS/2)(2008) ، ۱۰ پاراګراف.

[4] اجراآتي تضمینونه د توقیفیانو، شکمنو او تورنو اشخاصو هغو مختلفو حقونو ته راجع کیږي کوم چې هغوي ته د بشري حقونو د نړیوال قانون، د افغانستان د اساسي قانون او د جزایي اجراآتو د قانون له خوا ورکړل شوي څو عادلانه محاکمه او اړین قانوني اجراآت (لکه حقوقي مشاور/مدافع وکیل ته د لاس رسي حق او په وخت سره طبي معاینه) چې د شکمنې د مخنیوي لپاره اړین دي.

[5] قضیې عبارت دي د توقیف له هغې سلسلې چې هر یو توقیفي ورسره مخامخ شوی، او د توقیف په هر ځای کې چې کوم چلند ورسره شوي وي او د اجراآتي محافظتي تضمینونو پلیتوب.

[6] د روغتیا نړیواله اداره، "د کوویډ-۱۹ په اړه د ډبلیو ایچ او د عمومي رئیس په اړه رسنیو ته معلوماتي وینا – ۱۱ مارچ ۲۰۲۰" (۱۱ مارچ ۲۰۲۰)، پر دغې ویب پاڼې د لاس رسي وړ ده: https://www.who.int/director-general/speeches/detail/who-director-general-s-opening-remarks-at-the-media-briefing-on-covid-19---11-march-2020.

عالي کمیشنر دفتر په توقیف ځایونو کې له بندي کسانو سره خپلې مرکې په موقت ډول وځنډولې. د دغه دلیل له امله، د عین موضوع په اړه د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د نورو راپورونو په خلاف چې د دوه کلنۍ مودې پر بنسټ یې خپلې موندنې ترسره کړې، د دغه راپور لپاره د څارنې موده ۱۵ میاشتو ته راکمه شوې. دغه راپور د پریکنده شمیرو پر ځای د سلنې مقایسې ترسره کوي. د سلنو کارونه د دغه ډول مقایسو کارول مناسب ګرځوي.

د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر د هغه راپور په پرتله چې ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ کلونه[7] تر پوښښ لاندې نیسي، اوسنی راپور د افغان دولت له خوا د شکنجې او ناوړه چلند په کړنو کې د کموالي پرمختګ تاییدوي، په ځانګړي ډول راتلونکي هغه:

- له ۳۱.۹ سلنې څخه ۳۰.۳ سلنې ته د افغان حکومت په حراست کې د امنیت - یا تروریزم اړوند جرمونو لپاره له ازادۍ څخه د محروم شویو مرکه ورکوونکو کسانو په سلنه کې یو څه کموالی، چا چې د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او باوري معلومات ورکړي.
- د افغان ملي پولیسو له خوا له ۳۱.۲ سلنې څخه ۲۷.۵ سلنې ته د توقیف په قضیو کې د شکنجې او ناوړه چلند په عمومیت کې دوامدار کموالی.
- د ملي امنیت د ریاست له خوا له ۱۹.۴ سلنې څخه ۱۶ سلنې ته د توقیف په قضیو کې د شکنجې او ناوړه چلند په عمومیت کې دوامدار کموالی.

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د هغه فعال رول هرکلی کوي کوم چې د دولت د داخلي څارنې د میکانیزمونو له خوا لوبول شوي، په ځانګړي ډول د ملي امنیت د ریاست د بشري حقونو د افسرانو له خوا چا چې په منظم ډول په ټول هیواد کې د ملي امنیت د ریاست له حراست خونو[8] څخه لیدنې ترسره کړې. یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر دغه راز د لوي څارنوالۍ د شکنجې د منع کمیټې له خوا د جزا د قانون د ۴۵۰ مادې له مخې د شکنجې د جرمونو د فعالې عدلي تعقیبونې هرکلی کوي.

په ورته وخت کې، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر له اندېښنې سره د دې یادونه کوي چې د افغانستان د قوانینو او د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې ورکړل شوي اجراآتي تضمینونه د هغو کسانو لپاره په ندرت سره تطبیق شوي څوک چې د امنیت - یا تروریزم اړوند جرمونو لپاره له ازادۍ څخه محروم شوي. د څارنې په ۱۵-میاشتنۍ موده کې، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر موندلې چې د مرکه شویو توقیفیانو ترمنځ:

- د افغان ملي پولیسو یا د ملي امنیت د ریاست[9] د توقیف په نږدې هیڅ قضیه کې توقیفیانو ته د استنطاق تر دورې مخکې د هغوی د حقونو په اړه معلومات نه وو ورکړل شوي. د افغان ملي پولیسو په حراست کې د توقیف په ۵.۴ سلنه قضیو کې او د ملي امنیت د ریاست په حراست کې د توقیف په ۱۲.۷ سلنه قضیو کې له استنطاق څخه د وروسته مودې په ګډون، توقیفانو ته په یوه مرحله کې د هغوی د حقونو په اړه معلومات ورکړل شوي وو.

- د افغان ملي پولیسو یا د ملي امنیت د ریاست له خوا د توقیف په نږدې هیڅ یوه قضیه کې توقیفیان د دې وړ نه وو چې تر استنطاق مخکې مدافع وکیل ته لاس رسی ولري. د افغان ملي پولیسو په حراست کې د توقیف په ۶.۳ سلنه قضیو او د ملي امنیت د ریاست په حرسات کې د ۱۱.۴ سلنه قضیو کې توقیفیانو د خپل توقیف پرمهال په یوه مرحله کې مدافع وکیل ته لاس رسی ترلاسه کړی.

[7] له ۲۰۱۳ کال راهیسې د دغې موضوع په اړه د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر عامه راپورونو د څارنې دوه کلنۍ مودې تر پوښښ لاندې ونیولې. د ۲۰۲۰ کال په پیل کې د کووېډ-۱۹ خپرېدو یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر دې ته اړ کړل چې د ۲۰۲۰ کال په مارچ کې له توقیف ځایونو څخه خپلې فیزیکي لیدنې وځنډوي، ځکه دغه راپور یوازې ۱۵ میاشتې تر پوښښ لاندې نیسي. څرنګه چې د سلنو په اړه له تېر راپور سره مقایسې د پریکنده شمیرو پر ځای د توقیف د قضیو د هغه شمیر پر اساس وې چې په دغې موده کې د مرکو له لارې مستندې شوي، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر هغه معلومات په پام کې نیسي چې د څارنې د ۱۵-میاشتنۍ مودې څخه راغونډ شوي، کوم چې د پخوانیو راپورونو د څارنې له ۲۴-میاشتنیو مودو سره د مقایسې وړ دي. د یادونې وړ ده چې د مرکه ورکوونکو د شمیر په برخه کې، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ۲۰۱۹-۲۰۲۰ په ۱۵-میاشتنۍ موده کې (۶۵۶) د هغو په پرتله چې د ۲۰۱۷-۲۰۱۸ په ۲۴-میاشتنۍ موده (۶۱۸) کې مرکه شوي، له زیات شمیر خلکو سره مرکې ترسره کړي.
[8] په افغان قرینه کې دغه اصطلاح د هغو مرکزونو لپاره کارول شوې کوم چې د ملي امنیت د ریاست او افغان ملي پولیسو د افسرانو له خوا د استنطاق په موده کې د شکمنو کسانو د ساتنې لپاره کارول شوي، مخکې تر دې چې شکمن شخص څارنوالۍ ته ولیږدول شي. د مثال په ډول وګورئ، د جزایي اجراآتو د قانون (۲۰۱۴) ۸۱ ماده.
[9] افغان ملي پولیس د کورنیو چارو د وزارت تر تشکیل لاندې یوه پولیسي ځواک دی، په داسې حال کې چې د ملي امنیت ریاست یوه استخباراتي اداره ده. د ملي امنیت ریاست د افغان ملي پولیسو په څیر د جزایي اجراآتو د قانون له مخې د یوې کشفي ادارې په څیر تعین شوی. د ملي امنیت ریاست د امنیت - او تروریزم اړوند جرمونو په تړاو د شکمنو کسانو په نیونه او توقیف کې لا زیات فعال نقش لوبوي؛ خو له دې سره سره د نقش تفکیک واضح نه دی څرنګه چې افغان ملي پولیس هم د جنایي جرمونو د تحقیقاتو تر ریاست لاندنې له تروریزم سره د مبارزې واحد لري او د امنیت - او تروریزم اړوند جرمونو شکمن کسان نیسي او توقیفوي.

- د افغان ملي پولیسو په حراست کې د ۲۷.۲ سلنې او د ملي امنیت ریاست په حراست کې د ۱۹.۷ سلنې په درلودو سره د توقیفیانو دا ورتیا چې د توقیف په لومړیو پړاونو کې له خپلو کورنیو سره اړیکه ټینګه کړي، ټېټه وه. یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ملي امنیت د ریاست په حراست کې د انفرادي او تجرید شوي توقیف په اړه په ځانګړې ډول اندېښمن دي، چې د دغه ډول توقیف ۳۹ قضیې مستندې شوې (چې ۲۰ قضیې یې د پروان په توقیف ځای کې د ملي امنیت د ۲۴۱ ریاست لخوا وې).
- د افغان ملي پولیسو په حراست کې د توقیف نږدې په هیڅ قضیه او د ملي امنیت د ریاست په حراست کې دتوقیف په یوازې ۵ سلنه قضیو کې توقیفیانو تر استنطاق مخکې د بدن طبي ازموینه ترلاسه کړې.
- د افغان ملي پولیسو له خوا د توقیف نږدې په نیمه یې قضیو کې (۴۲.۹ سلنه) او د ملي امنیت ریاست (۴۹.۱ سلنه) کې له توقیفیانو پر یوه سند لاسلیک کولو یا د ګوتې لګولو غوښتنه شوې پرته له دې چې توقیفي د هغه په منځپانګه پوه شي.

د پورته او نورو اړوندو حقوقي او اجراآتي تضمینونو موثر تطبیق کولی شي لا زیات د شکنجې او ناوړه چلند د پیښو په راکمولو کې مرسته وکړي. دا همدارنګه له ازادۍ څخه له محروم شویو کسانو سره د چلند د ښه کولو لپاره خورا مهم دي؛ دغه چارې به دغه راز د قانون په نافذوونکو چاروکو او قانون پر واکمنۍ په عمومي ډول د خلکو باور زیات کړي.

دغه راپور یوازې د دولتي توقیف ځایونو په اړه دی. د طالبانو او نورو دولت ضد عناصرو توقیف ځایونه، د لاسرسي د نشتون له کبله، په دې راپور کې شامل نه دي.

د ملي امنیت ریاست او افغان ملي پولیسو په توقیف ځایونو کې د شکنجې او بد چلند د کره او باوري تورونو کچه



# ۱. مخینه

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر دغه راپور د امنیت شورا د اوسنیو او پخوانیو هغو پریکړو لیکونو په تعقیب چمتو کړی کوم چې یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر ته دنده سپاري چې په عدلي او زندانونو په سکتورونو کې بشري حقونو ته درناوی ښه کړي. د امنیت شورا تر ټولو وروستۍ ۲۵۴۳ (۲۰۲۰) پریکړه لیک یوناما ته دنده سپاري چې "توقیف ځایونه او له ازادۍ څخه له محروم شویو کسانو سره چلند وڅاري، احتساب ته وده ورکړي او د افغانستان اساسي قانون او هغو نړیوالو تړونونو چې افغانستان یې غړی دولت دی، د بنسټیزو ازادي ګانو او د بشري حقونو د احکامو په بشپړ تطبیق کې مرسته وکړي".[10]

د ۲۰۱۰ کال په اکتوبر میاشت کې، د ملي امنیت له ریاست او د کورنیو چارو له وزارت سره په همغږۍ، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د افغان دولت په حراست کې د امنیت - او تروریزم اړوند جرمونو لپاره له ازادۍ څخه د محروم شویو کسانو[11] د چلند د څارنې خپل پروګرام پیل کړ.[12] له هغه وخت راهیسې، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر په ټول افغانستان کې د امنیت - او تروریزم اړوند جرمونو لپاره له ازادۍ څخه د محرومو کسانو د شکنجې او د ظالمانه، نا انساني او له سپکاوي ډک چلند او سزا د نورو شکلونو (تر دې وروسته ناوړه چلند یادیږي) شتون مستند او راپور کړي. د پروګرام هدف دا دی چې له دولت سره د شکنجې او ناوړه چلند د منع او مخنیوي لپاره د هغه د ژمنو په پلي کولو کې د هغه له روانو هڅو سره مرسته وشي او چیرې چې د دغه ډول چلند ادعا شوې وي په اړه یې پې پرې، خپلواکې او باوري څیړنې ترسره کړي او د قربانیانو د جبران لپاره مناسبې وسیلې رامنځ ته کړي.[13]

دا راپور شپږم مهالنی راپور دی چې د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر له خوا د امنیت - او تروریزم اړوند جرمونو لپاره له ازادۍ څخه له محروم شویو کسانو سره د چلند په اړه خپور شوی.[14] په داسې حال کې چې پخوانیو زیاترو راپورونو دوه کلنه دوره تر پوښښ لاندې نیولې، دغه راپور د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ څخه د ۲۰۲۰ کال د مارچ تر ۳۱ پورې ۱۵ میاشتنۍ دوره تر پوښښ لاندې نیسي. د دغه راپور له خوا تر پوښښ لاندې نیول شوې موده لنډه ده، ځکه چې یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر باید په افغانستان کې د کوویډ-۱۹ وبا د خپریدو له امله له توقیف ځایونو څخه خپلې فیزیکي لیدنې ځنډولې وای.

د ۲۰۱۰ کال راهیسې، افغان حکومت توقیف ځایونو ته د څارنې لپاره د دوامدار لاس رسي په تسهیلولو سره له یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر له دفتر سره خپل رغنده ګډون او تعامل جاري ساتلی. په داسې حال کې چې د امنیت - او تروریزم اړوند جرمونو لپاره له ازادۍ څخه له محروم شویو کسانو سره د چلند په اړه د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر له ځینو موندنو سره اختلاف لري، اړوندو دولتي ادارو له یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر له دفتر سره د توقیف د حالاتو د اړوندو اړخونو او له ازادۍ څخه د محروم شویو کسانو سره د چلند په اړه خپل ګډون او تعامل جاري ساتلی.

---

[10] د امنیت شورا ۲۴۵۳ (۲۰۲۰) پریکړه لیک، عملیاتي پاراګراف ۶ (ای).

[11] په دغه راپور کې "له ازادۍ څخه د محرمونو کسانو" اصطلاح هغو کسانو ته راجع کیږي چې په مشخصو جرمونو شکمن، تورن یا مجازات شوي وي او په حراست کې وي.

[12] هغه توقیفیان چې د جګړې اړوند جرمونو په تورن او مجازات شوي په عموم ډول تروریستي جرمونه، د نسل وژنې جرمونه، د بشریت ضد جرمونه، جنګي جرمونه، د دولت په ضد جرمونه او د داخلي او بهرنی امنیت په ضد مشخص جرمونه دي چې د جزا په قانون کې یې تصریح شوي (د جزایي اجراآتو د قانون د لومړۍ ضمیمې لومړۍ ماده وګورئ.

[13] یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د "ژوندي پاتې شوو" په ځیر کوم چې ښايي په مشخصو قرینو کې د ترجیح وړ وي، له نورو اصطلاحاتو سره تر کوم تعصب او توپیر پرته د "قربانیانو" حقوقي اصطلاح کاروي، همدارنګه وګورئ، د ملګرو ملتونو د شکنجې د منع کمیټې ۳ شمیره عمومي تبصره: د غړو هیوادو له خوا د ۱۴ مادې تطبیق (۲۰۱۲)(CAT/C/GC/3)  ۳ پاراګراف.

[14] یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر لومړي راپور چې دغې موضوع ته رسیدګي کوي د ۲۰۱۱ په اکتوبر کې او د هغه په تعقیب هر دوه کاله وروسته نور راپورونه خپاره شوي. *مهرباني وکړئ وګورئ:* یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر، *په افغان نظارت کې د جګړې اړوند توقیفیانو سره چلند* (اکتوبر ۲۰۱۱)؛ یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر، *په افغان نظارت کې د جګړې اړوند توقیفیانو سره چلند: یو کال* (جنوري ۲۰۱۳)؛ یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر، *په افغان نظارت/حراست کې د جګړې اړوند توقیفیانو سره د چلند په اړه تازه معلومات: احتساب او د ولسمشر د ۱۲۹ شمیره فرمان تطبیق* (فبروري ۲۰۱۵)؛ یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر، *په د جګړې اړوند توقیفیانو سره چلند: د شکنجې د له منځه وړلو په اړه د افغانستان د ملي پلان تطبیقول* (اپریل ۲۰۱۷)؛ یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر، *په افغانستان کې د جګړې له اړوند توقیفیانو سره چلند: د شکنجې د منع د قانون له مخې د شکنجې او ناوړه چلند مخنیوی* (اپریل ۲۰۱۹). ټول راپورونه پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دي: https://unama.unmissions.org/treatment-conflict-related-detainees-afghan-custody.

د ۲۰۲۰ کال په جنوري میاشت کې، افغان دولت د محابسو د پراخو اصلاحاتو د یوې برخې په څیر د محابسو د مدیریت اداره، یوه ملکی اداره، تاسیس کړه.[15] دغه اصلاحات د دې پیشبیني کوي چې د توقیف د ټولو ځایونو مدیریت چې اوس مهال د مختلفو ادارو له خوا په مخ وړل کیږي، تر دغې ادارې لاندې توحید شي.[16] د مدیریت بشپړ لیږد د دغه راپور تر لیکلو پورې نه دی ترسره شوی.

د ۲۰۲۰ کال تر پایه، افغان دولت د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني او له سپکاوي ډک چلند یا سزا د منع کنوانسیون له الحاقي پروتوکول سره سم له کوم سره چې افغانستان د ۲۰۱۸ کال په اپریل کې یو ځای شوی، د مخنیوي کوم ملي میکانیزم نه دی تاسیس کړی. له دې سره یو شمیر ادارو لکه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، د لوي څارنوالۍ د شکنجې د منع کمیټه او د شکنجې د منع کمیسیون (د ۲۰۱۸ کال د شکنجې د منع د قانون له مخې تاسیس شوي) د شکنجې د له منځه وړلو او د توقیفیانو د حقونو د ښه والي لپاره کار کوي. د مخنیوي د ملي میکانیزم د تاسیسولو په اړه خبرې اترې چې د الحاقي پروتوکول له مخې اړین شرایط پوره کړي، د ۲۰۲۰ کال تر پایه د اړوندو ادارو ترمنځ روانې وې.

[15] د محابسو د بنسټیزو بدلونونو په تړاو د افغانستان د اسلامي جمهوري د ولسمشر ۱۰۶ شمیره فرمان (۱۵ جنوري ۲۰۲۰)، ۱ پاراګراف.
[16] همدا ماخذ، ۲ پاراګراف.

# ۲. میتودولوژي

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د مخه نیوونکې څارنې تکلار تعقیبوي. د توقیف ځایونو د مخه نیوونکو لیدنو موخه د شکنجې او ناوړه چلند د خطر فکټورونو او سیستماتیکو نقضونو معلومول دي، کوم چې ښايي د بشري حقونو د نقض او سرغړونې لامل شي. یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر په پام کې نیسي چې د مرکو له لارې ثابت او منسجم راغونډ شوي معلومات د یوې نمونې یا جریان ښکاروندی دي. د میتودولوژي په اړه نور معلومات لاندې په ډاګه شوي.

## ۲. ۱.  د توقیف ځای د څار لیدنې

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د افغان دولت له خوا اداره کېدونکې له توقیف ځایونو څخه لیدنې ترسره کوي له ازادۍ څخه له محروم شویو کسانو سره محرمانه مرکې ترسره کوي. یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د افغان ملي پولیسو له ولایتي او ولسوالۍ له حراست خونو؛ د ملي امنیت د ولایتي حراست خونو او د ملي امنیت د ۲۴۱/۰۴۱ ریاست (له تروریزم سره د مبارزې ریاست) او د ملي امنیت ۵۰۱/۰۴۹ ریاست (د تحقیقات ریاست) له حراست خونو؛ په پروان کې د افغان له ملي توقیف ځای؛ له ولایتي محبسونو او توقیف مرکزونو؛ او د ژېکو د اصلاح او تربیت له مرکزونو څخه لیدنې ترسره کوي. یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر هڅه کوي چې تر شونې حده په زیات شمیر ولایتونو کې له توقیف ځایونو څخه لیدنې ترسره کړي، خو امنیتي اندېښنې او د بشري منابعو محدودیتونه له ټولو ولایتونو لیدنې له ننګونو سره مخ کوي. د ۲۰۱۹ په پای کې په کابل او نورو موقعیتونو کې امنیتي اندېښنې له توقیف ځایونو څخه د کم شمیر لیدنو لامل شوې. د ۲۰۲۰ کال په مارچ کې د کوویډ-۱۹ وبا خپریدو په هیواد کې ټولې لیدنې په موقت ډول وځنډولې.

د امنیت شورا له ۲۵۴۳ (۲۰۲۰) پریکړه لیک سره سم چې یوناما ته دنده سپاري "...، توقیف ځایونه او له ازادۍ څخه له محروم شویو کسانو سره چلند وڅاري، احتساب ته وده ورکړي ...." (۶ فقره (هـ)) او د ۲۰۰۹ کال راهیسې د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر لپاره په دې تمرکز شوی و چې د امنیت - یا تروریزم اړوند جرمونو[17] په تړاو له ازادۍ څخه له محروم شویو کسانو سره مرکې ترسره کړي. له توقیف مرکزونو څخه د څارنې د لیدنو پر مهال، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ثبت له کتاب څخه مرکه ورکوونکې انتخاب کړي. د دغه راپور له خوا تر پوښښ لاندې نیول شوې مودې لپاره، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر هغه کسان غوره کړي چې په ۲۰۱۹ یا ۲۰۲۰ کال کې نیول شوي خو په توقیف ځایونو کې د قانون د تنفیذ د چارواکو د کړنو په تړاو تر ټولو وروستي معلومات راغونډ کړي.

دغه راپور یوازې د دولتي توقیف ځایونو په اړه دی. د طالبانو او نورو دولت ضد عناصرو توقیف ځایونه، د لاسرسي د نشتون له کبله، په دې راپور کې شامل نه دي.

## ۲. ۲.  د معلوماتو د راغونډولو نورې لارې چارې

له توقیف ځایونو څخه پر لیدنو سربیره، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون، قضائیه غړو، څارنوالانو، مدافع وکیلانو، د توقیف ځایونو له چارواکو، د داخلي تفتیش له میکانیزمونو او اړوندو مرستندویه ادارو سره کار کړی او معلومات یې خپرلي. یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر دغه راز د توقیف د حالاتو او له ازادۍ څخه د محروم شویو کسانو سره د چلند په اړه له قوانینو، نورو رسمي سندونو او راپورنو معلومات راغونډ کړي او هغه یې تحلیل کړي.

## ۲. ۳.  د مرکې تضمینونه او لارې چارې

[17] د ۲۰۱۸ کال د جزا د قانون، دویم فصل، لومړی برخه کې د (د داخلي او بهرني امنیت په وړاندې جرمونو) لومړی فصل او د (تروریزم) دویم فصل وګورئ. په عمومي ډول دغه جرمونه د جزایي اجراآتو د قانون د لومړی ضمیمې له خوا تر پوښښ لاندې نیول شوي، کوم چې د دغه قانون له خوا تر پوښښ لاندې نیولو شویو جرمونو د شکمنو اشخاصو لپاره یوه استثنایي اجراآتي موده برابروي، لکه د څارنوال له اجازې پرته یوه ۱۰ ورځنی یو طولانی استنطاقي توقیف. له دې سره سره لومړی ضمیمه د امنیت - او تروریزم اړوند جرمونه په ځانګړي ډول هغه چې د جزا د قانون په ۲۷۷ ماده تصریح شوي (د تروریستي سازمان تاسیسول، د هغه د غړیتوب ترلاسه کول او له هغه سره همکاري کول) تر پوښښ لاندې نه نیسي.

له ازادۍ څخه محروم شويو کسانو سره د مرکو ترسره کولو پر مهال د يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر د دفتر تر ټولو مهم لومړيتوب "زيان نه رسول" دي. له همدې امله او له معياري کړنو سره سم يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر د هر انفرادي مرکه ورکوونکي هويت محرم ساتي. يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر په انفرادي قضيو کې له چارواکو سره له دې احتمال خطر له امله مداخله نه کوي چې ښايي هغه مرکه ورکوونکي د غچ له بالقوه خطر سره مخ شي پر چا چې د توقيف ځای پر چارواکو د شکنجې يا ناوړه چلند د تورونو ترسره کولو شک وشي.

يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر له هر فرد سره د دولتي چارواکو يا له ازادۍ څخه د محروم شويو د نورو کسانو په نشتون کې په يوه محرم او خوندي چاپېريال کې مرکې ترسره کوي. يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر د مرکې د موخې، محرميت او رضا کارانه ماهيت او دغه راز د يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر د ماموريت تشريح او د شخص ازاد او با خبر رضايت له ترلاسه کولو وروسته له ازادۍ څخه له محروم کس سره مرکه ترسره کوي. مرکې د يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر د دفتر د بشري حقونو د افسرانو له خوا د مرکه ورکوونکي په مورنۍ ژبه (عموماً پښتو يا دري) ترسره کوي. يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر نيمه رسمي مرکې ترسره کوي چې مرکه ورکوونکو ته د دې زمينه برابروي چې د نيونې له وخت راهيسې د خپلو تجربو په اړه خپل معلومات شريک کړي، په داسې حال کې چې کليدي نکتې هم تر پوښښ لاندې نيسي لکه په توقيف ځايونو کې چلند او د اجراآتي تضمينونو تطبيق.

## ۲. ۴. د ثبوت معيار او احصائيې

### د ثبوت معيار

په داسې حال کې چې د شکنجې او ناوړه چلند ټول تورونه بايد وڅېړل شي، يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر د "په کافي ډول کره او باوري" حد کارول غوره کړي، څو معلومه کړي چې ايا له ازادۍ څخه د محروم شوي کس له خوا برابر شوي معلومات بايد په خپل راپور کې شامل کړي.

يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر ټول موجوده معلومات ارزوي څو معلومه کړي چې آيا د شکنجې او ناوړه چلند يا د اجراآتي تضمينونو د نقض په اړه د هر تور ترلاسه شوي معلومات د کارولو لپاره په کافي ډول کره او باوري دي. د ارزونې په شرايطو کې په هره ځرګندونه کې (ذاتي باوريتوب) د تفصيلاتو او تسلسل کچه او د توقيف د يوه ځانګړي توقيف ځای په اړه د نورو مرکه ورکوونکو له خوا ورته ترسره شوي تورونه او نور قرينه يي يا مرستندويه معلومات (بهرني باوريتوب) شامل دي.

يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر د مرکو له لارې د ترلاسه شويو معلوماتو د دوه اړخونو د کره توب ارزونه ترسره کوي. يو د شکنجې او ناوړه چلند د تورونو د کره توب په اړه ده، که چيرې کوم مرکه ورکوونکي کوم تور پورې کړی وي، بل هغه يې د اجراآتي تضمينونو د تطبيق په اړه د معلوماتو د کره توب په اړه ده. په پای کې د مثال په ډول کله چې د اجراآتي تضمينونو په اړه يوه مرکه ورکوونکي معلومات باوري وي خو د شکنجې او ناوړه چلند په اړه تورونه باوري نه وي، يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر د مرکه ورکوونکي معلومات د لومړۍ برخې په تړاو په احصائيو کې شاملوي او د دويمې برخې په اړه يې نه شاملوي.

### احصائيې

يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر دوه ډوله احصائي راغونډوي. لومړي ډول يې د مرکه ورکوونکو په اړه د معلوماتو په تړاو دی، لکه د هغوی د نيونې موقعيت او د هغوی نيوونکي چارواکي. دويم ډول يې د حراست د هغه تسلسل په اړه له کوم څخه چې هر مرکه ورکوونکی تير شوی او په هر توقيف ځای کې د چلند او د اجراآتي تضمينونو د تطبيق په اړه دی. د مثال په ډول، يو کس کيدای شي د افغان ملي پوليسو له خوا په يوه ولسوالۍ کې نيول شوی او توقيف شوی وي او بيا د ولايت په کچه د ملي امنيت رياست ته ليږدول شوی وي. که چيرې يو کس په کافي ډول په باوري او کره ډول د دې ادعا کړې وي چې په دواړو ځايونو کې له ناوړه چلند سره مخ شوی (د ولسوالۍ په کچه د افغان ملي پوليسو او ولايت په کچه د ملي امنيت د رياست له خوا)، د کس له خوا د ناوړه چلند معلومات دوه ځلې شميرل کيږي – يو ځلې د افغان ملي پوليسو او يو ځلې د ملي امنيت د رياست لپاره.

د ۲۰۱۹ کال د جنوري د ۱ او د ۲۰۲۰ کال د مارچ د ۳۱ ترمنځ، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر په ۲۴ ولایتونو کې په ۶۳ توقیف مرکزونو کې له ۶۵۶ کسانو سره مرکې ترسره کړې. یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د توقیف ۱۴۵۸ قضیې ثبت کړې. څرنګه چې یې په اړه پورته بحث وشو، په هغو قضیو کې په کومو کې چې معلومات/څرګندونې په کافي ډول کره او باوري نه ګڼل کیږي، هغه په اړوندو احصائیو نه دي شامل شوي.

د پریکنده شمیرو پر ځای د توقیف د قضیو د شمیر پر بنسټ کوم چې د مرکو له لارې د څارنې په موده کې مستند شوي له پخواني راپور سره د مقایسو په څیر، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر هغه معلومات په پام کې نیسي چې د څارنې د ۱۵-میاشتنۍ مودې څخه راغونډ شوي، کوم چې د پخوانیو راپورونو د څارنې له ۲۴-میاشتنیو مودو سره د مقایسې وړ دي. د یادونې وړ ده چې د مرکه ورکوونکو د شمیر په برخه کې، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ۲۰۱۹-۲۰۲۰ په ۱۵-میاشتنۍ موده کې (۶۵۶) د هغو په پرتله چې د ۲۰۱۷-۲۰۱۸ په ۲۴-میاشتنۍ موده (۶۱۸) کې مرکه شوي، له زیات شمیر خلکو سره مرکې ترسره کړې.

# ۳. حقوقي چوکاټ چې په افغانستان کې شکنجه او ناوړه چلند منع کوي

## ۳. ۱. د شکنجې منع

یو شمیر نړیوال تړونونه چې افغانستان يې غړیتوب لري شکنجه، او نور ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا منع کوي. په دې کې د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا د منع کنوانسیون (د شکنجې د منع کنوانسیون) او د هغه الحاقي پروتوکول، د مدني او سیاسي حقونو نړیوال کنوانسیون، د ماشومانو د حقونو کنوانسیون، د معلولیت لرونکو کسانو کنوانسیون، د جنیوا د ۱۹۴۹ کال کنوانسیونونه، د نړیوالې جنايي محکمې د روم اساسنامه شامل دي. د دغه ډول کړنو ممانعت د دولت د درناوي مکلفیت د تقلیل وړ نه دی؛ نو له دې امله دولت د دغو کړنو د کاروني انتخاب یا د ممانعت په رعایت کولو کې پاتې راتلل هیڅ کله نه شي توجیه کولی، آن په بیړنیو حالاتو کې هم.[18] (د نړیوال قانون له مخې د شکنجې او ناوړه چلند د ممانعت د لنډیز لپاره لومړی ضمیمه وګورئ.)

افغان قانون په څرګند ډول شکنجه منع کوي، اساسي قانون په دې اړه داسې تصریح کوي چې "هیڅوک نه شي کولای چې له بل شخص څخه حتی د حقایقو د ترلاسه کولو لپاره که څه هم تر تعقیب، نیونې یا توقیف لاندې وی او یا په جزا محکوم وي، د هغه د تعذیب لپاره اقدام وکړي یا يې د تعذیب امر ورکړي" (۲۹ ماده). اساسي قانون همدارنګه تصریح کوي چې "هر څوک چې له اداري څخه بې موجبه زیانمن شي د تاوان اخیستلو مستحق دی او کولای شي د تاوان د ترلاسه کولو لپاره په محکمه کې دعوا اقامه کړي" (۵۱ ماده).

د ۲۰۱۸ کال د جزا قانون د هغو عنصرونو سره سم چې د شکنجې د منع په کنوانسیون کې يې تصریح شوې د پراخ تعریف په درلودو سره د شکنجې کړنې جرم ګڼي (۴۵۰ ماده). پر دې سربیره د جزا قانون د دولتي چارواکي له خوا د هر شخص په وړاندې "تاوتریخوالی" لکه تیری کوونکی، ناوړه یا له سپکاوي ډک چلند (۴۴۸ ماده) جرم ګڼي. په ورته ډول د شکنجې د منع د ۲۰۱۸ کال قانون د شکنجې کړنې منع کوي (۶ ماده) او تصریح کوي چې په دغه ممنوعیت کې هیڅ ډول استثنا نشته (۷ ماده).[19] د ولسمشر ۱۲۹ شمیره فرمان[20] چې په ۲۰۱۳ کال کې خپور شوی، یو ځل بیا د شکنجې اساسي ممنوعیت تاییدوي او په ځانګړي ډول د کورنیو چارو وزارت، د ملي امنیت ریاست او لوي څارنوالی ته امر کوي چې "له هیڅ شکمن شخص یا توقیفي سره د پوښتنو ګروېږنو او توقیف پر مهال ناوړه چلند و نه کړي یا شکنجه نه کړي".

## ۳. ۲. د شکنجې او ناوړه چلند د منع اجراآتي تضمینونه

د شکنجې د منع کنوانسیون افغان دولت مکلفوي چې نه یوازې شکنجه او ناوړه چلند منع کړي، بلکې دغه راز د شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوي لپاره موثر تدابیر وضع کړي.[21] د شکنجې د منع کمیټې افغان دولت ته د دې سپارښتنه کړې چې په قانون او په عمل کې دا ډاډمن کړي چې له ازادۍ څخه د محروم شویو ټولو کسانو لپاره له ازادۍ څخه د محرومیت له پیل راهیسې ټول بنسټیز حقوقي تضمینونه برابر شوي، او د دې یقیني کولو په ګډون چې هغوی ته د خپلو حقونو په اړه اطلاع ورکړل شوې، څو په چټک ډول خپلواکه حقوقي مرسته او خپلواکه طبي مرسته ترلاسه کړي او له خپلو خپلوانو سره په اړیکه کې شي.[22] د افغانستان اساسي قانون د مدافع وکیل او له هغه سره د محرمانه مکالماتو د درلودو د حق، د نیونې پرمهال د اتهام په اړه د خبریدو د حق او په وخت سره په محکمه کې د حاضریدو د حق تصریح کوي (۳۱ ماده). د شکنجې د منع قانون همدارنګه له لوي څارنوالۍ، د کورنیو چارو له وزارت، د ملي امنیت له ریاست او له دفاع وزارت

---

[18] د شکنجې د منع کنوانسیون، ۲ (۲) ماده؛ د مدني او سیاسي حقونو نړیوال کنوانسیون، ۴ (۲) ماده؛ دغه راز د بشري حقونو د کمیټې ۲۶۵۷/۲۰۱۵ شمیره ابلاغیه، لوپینز د هسپانیې په وړاندې (۲۰۱۹) (دې پایلې ته رسیدل چې د تروریزم د ګواښونو په ګډون تر هیڅ ډول شرایطو لاندې شکنجه د توجیه وړ نه ده).

[19] د شکنجې د منع کمیټې د جزا د قانون (۴۵۱ مادې) له مخې د شکنجې د جرم لپاره د مخففه مجازاتو لپاره کوم چې له ۳ تر ۵ کلونو د حبس سزا کیږي، خپله اندېښنه په ډاګه کړې. د شکنجې د منع کمیټې د افغانستان د دویم مهالني راپور (۲۰۱۷) په اړه خپل ملاحظات نهايي کړي (CAT/C/AFG/C2)، ۲۳ پاراګراف.

[20] د افغانستان اسلامي جمهوریت د ولسشمر فرمان څو په توقیف ځایونو کې د شکنجې او ناوړه چلند د شتون په اړه د افغان حقیقت موندنې د پلاوي سپارښتنې تطبیق کړي، ۱۲۹ شمیره (۱۶ فبروري ۲۰۱۳).

[21] د شکنجې د منع کنوانسیون ۲ ماده، د شکنجې د منع کمېټه، ۲ شمیره عمومي تبصره، سوپرا، ۸-۱۴ پاراګرافونه.

[22] د شکنجې د منع کنوانسیون د افغانستان د دویم مهالني راپور (۲۰۱۷) په اړه خپل ملاحظات نهايي کړي، سوپرا. ۲۵ پاراګراف؛ د شکنجې د منع کمېټه، ۲ شمیره عمومي تبصره، سوپرا، ۱۳ او ۱۴ پاراګرفونه.

څخه د شکنجې د منع د تدابیرو د وضع کولو غوښتنه کوي (۸ ماده). د جزايي اجراآتو قانون او نور اړوند قوانين همدارنګه زیاتره هغه حقونه تضمینوي کوم چې د شکنجې او ناوړه چلند د منع لپاره خورا مهم تضمینونه انګیرل کیږي.[23]

په محکمه کې په وخت د حاضریدو د حق په اړه د اساسي قانون له حکم سره سره (۳۱ ماده)، د جزايي اجراآتو قانون تر نیونې وروسته په لومړیو ورځو کې د توقیف قضايي بیاکتنه نه برابروي. قضايي بیاکتنه د جنجي د جرمونو لپاره تر اووم ورځې او د جنايي جرمونو لپاره تر ۱۵ ورځې پورې لازمي نه ګڼل کیږي (۱۰۰ ماده). د جزايي اجراآتو ۱ ضمیمه له قضايي بیاکتنې پرته د جنجي جرمونو لپاره توقیف د ۴۰ ورځو او د امنیت - او ترورېزم اړوند انتخاب شویو جنايي جرمونو لپاره د ۷۰ ورځو لپاره د ممکنه توقیف موده غځوي (۶ ماده).

د ۲۰۱۹ کال د جنوري راهیسې، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د دغو تضمینونو د تطبیق په اړه په لا زیات سیستماتیک ډول معلومات راغونډوي. (د هغوی د تطبیق په اړه له موندنو سره، د هر کلیدي تضمین په اړه د تطبیق وړ حقوقي چوکاټ په اړه د مفصلې مباحثې لپاره لاندې پنځمه برخه *وګورئ*).

## ۳. ۳.   د شکنجې تورونو ته غبرګونونه

د شکنجې د منع کنوانسیون چې افغانستان يې غړیتوب لري تصریح کوي چې "هر غړی دولت باید ډاډمن کړي چې صلاحیت لرونکي چارواکي يې په *چټک او بې پرې ډول* هغه مهال څیړنې ترسره کوي، کله چې يې د قلمرو په هره برخه کې د شکنجې د عمل د رامنځ ته کیدو په اړه یو موجه دلیل موجود وي" (۱۲ ماده).

کله چې د افغان ملي پولیسو او د ملي امنیت د ریاست په ګډون د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو پر پرسونلو د جرم د ترسره کولو شک کیږي، د جزايي اجراآتو د قانون پر ځای د عسکري جزا قانون د تطبیق وړ دی (د عسکري جزا قانون ۳ ماده). د عسکري جزا د قانون له مخې، هغه قوماندان چې د هغه تر قوماندې لاندې د پرسونل له خوا د ادعا شوي جنايي کړنې د ترسره کولو په اړه خبر وي، باید د ادعا شوي جرم د حقیقتونو او شرایطو په اړه ابتدايي څیړنې ترسره کړي (۱۸ (۳) ماده). که چیرې د دې موجه لاملونه موجود وي چې ادعا شوی عمل یو جرم دی، قوماندان باید قضیه د عدلي تعقیب اړوند ډیپارتمنت ته راجع کړي (همدا ماخذ). کله چې شکمن شخص د څارنوالۍ حراست ته ولیږدول شي او بیا وروسته له قوماندان څخه اړوند اسناد تر لاسه کوي، څارنوال نورې څیړنې ترسره کوي، د ۷۲ ساعتونو په دننه کې له شکمن شخص څخه د پوښتنو ګروېږنو په ګډون (د عسکري جزا قانون ۲۱ ماده). نوموړی قانون د څارنوال د دې صلاحیت په اړه خاموش دی چې په خپل ابتکار څیړنې ترسره کړي.

د جزايي اجراآتو قانون تصریح کوي که چیرې څارنوال د څیړنو پرمهال دا معلومه کړي چې پولیسو او د ملي امنیت کارمندانو له قضیې سره د تعامل پر مهال له قانون څخه سرغړونې ترسره کړې، څارنوال له شرایطو سره سم اړوندې صلاحیت لرونکې مرجع ته د موضوع په اړه راپور ورکوي (۹۱ ماده).

د جزايي اجراآتو د قانون او د عسکري جزايي قانون له مخې اوسنی چوکاټ د شکنجې د ترسره کوونکو د شکمنو چارواکو له مسوول قوماندان څخه د لومړنیو حقیقت موندنې د ترسره کولو غوښتنه کوي، داسې نه بریښي چې د بې طرفه څیړنو لپاره زمینه برابروي. څرنګه چې ولیدل شول، د جزايي اجراآتو د قانون ۹۱ ماده له څارنوال څخه یوازې با صلاحیته مرجع ته د راپور ورکولو غوښتنه کوي او د هغه/هغې په خپل ابتکار د کومو چټکو څیړنو غوښتنه نه کوي.

---

[23] د جزايي اجراآتو قانون (۲۰۱۴) ۷ او ۸ مادې؛ د عسکري جزا قانون (۲۰۱۰) ۱۳، ۱۴ او ۲۱ مادې؛ د پولیسو قانون (۲۰۰۹) ۱۵ (۴) ماده؛ د مدافع وکیلانو قانون (۲۰۰۷) ۱۰ ماده. د ۲۰۱۴ کال د جزايي اجراآتو د قانون د ۷ مادې له مخې د شکمنو او متهمو کسانو لپاره تضمین شوي حقونه په راتلونکي ډول دي: (۱) له اتهام څخه خبریدل، (۲) له خپل سرې نیونې یا توقیف څخه ازادیدل او د دغه ډول چلند لپاره د خسارې جبران، (۳) له شکنجې او ناوړه چلند څخه ازاد، (۴) له نیونې څخه د کورنۍ خبریدل، (۵) په ازاد ډول د څرګندونو کول، (۶) د ثبوتونو او شواهدو برابرول، (۷) خاموش پاتې کیدل، (۸) د مدافع وکیل ټاکل یا د حقوقي مرستې د برابرونکي درلودل، (۹) په نیول شوي توکو او ثبوتونو تبصره کول، (۱۰) د ترجمان درلودل، (۱۱) د دوسیې منځپانګې ته لاس رسي درلودل او د دفاعیې چمتو کول، (۱۲) پر جنايي اجراآتو نیوکه کول، (۱۳) د توقیف قضايي کتنه (habeas corpus)، (۱۴) له حقوقي مشاور سره ازاد او محرمانه مکالمات، (۱۵) له ځنډ پرته عدلي تعقیب، (۱۶) علني محکمه، (۱۷) محکمه کې حاضریدل، (۱۸) په محکمه د وروستیو څرګندونو کول، (۱۹) د شاهدانو ازمایل، او (۲۰) قاضي ، څارنوال ، مدافع وکیل او کارپوهانو ته اعتراض کول.

## ۴.۳. د شکنجې او ناوړه چلند د قربانیانو لپاره جبران

د اساسي قانون ۵۱ ماده تصریح کوي چې "هر څوک چې له اداري څخه بې موجبه زیانمن شي د تاوان اخیستلو مستحق دی او کولای شي د تاوان د تر لاسه کولو لپاره په محکمه کې دعوا اقامه کړي." د شکنجې د منع په قانون کې په ځانګړي ډول د شکنجې د قربانیانو د خسارې د جبران په اړه یو فصل شامل دی، او حکم کوي چې د خسارې د جبران لپاره د قرباني ادعا د جزائي اجراآتو په پایله پورې تړلې نه ده.[24]

له دې سره سره، داسې ښکاري چې د شکنجې د منع قانون د خسارې د جبران د ټاکلو لپاره ("له کوم معقول شک پرته") د اثبات دروند مسوولیت غوښتنه کوي. دغه شرط د مسوولیت د اثبات له هغه دقیق حکم سره ټراو لري، کوم چې یوازې هغه مهال تطبیق کیږي کله چې له ازادۍ د محروم شوي شخص پر بدن د شکنجې نښې نښانې ولیدل شي.[25] له نړیوالو معیارونو سره سم، د شواهدو د برابرولو مسوولیت او اجراآتي شرایط ښايي د خسارې د جبران د حق د موثر تطبیق په وړاندې خنډونه رامنځ ته کړي.[26]

---

[24] د شکنجې د منع د قانون (۲۰۱۸) ۲۰ ماده؛ د شکنجې د منع کمیټې ۳ شمیره عمومي تبصره: د غړو دولتونو له خوا د ۱۴ مادې تطبیق (۲۰۱۲) (CAT/C/GC/3)، ۲۶ پاراګراف.

[25] د شکنجې د منع د قانون (۲۰۱۸) ۲۲ او ۲۳ مادې.

[26] د شکنجې د منع کمیټې ۳ شمیره عمومي تبصره، سوپرا، ۳۸ پاراګراف.

# ۴. د شکنجې او ناوړه چلند په اړه موندنې

په دغه راپور کې وړاندې شوې موندنې د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر له خوا د امنیت - یا تروریزم اړوند جرمونو لپاره له ازادۍ څخه له محروم شویو د ۵۶۵ سړیو، ۶ ښځو، ۸۲ هلکانو او ۳ نجونو په ګډون له ۶۵۶ کسانو سره د ترسره شویو مرکو پر بنسټ دي چې د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ څخه د ۲۰۲۰ کال د مارچ د ۳۱ نېټو ترمنځ د ټول هیواد د ۲۴ ولایتونو په ۶۳ توقیف ځایونو کې بندي وو. د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر د بشري حقونو افسرانو په ټول افغانستان کې په ۲۴ ولایتونو کې په ۶۳ توقیف ځایونو کې مرکې ترسره کړې. زیات شمیر مرکه ورکوونکي مخکې تر دې چې د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر له خوا مرکه شي، په ګڼ شمیر توقیف ځایونو کې بندي او تر پوښتنو ګروېږنو لاندې نیول شوي. په پای کې یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ځار په ۱۵ میاشتنۍ دوره کې د ۶۵۶ مرکو له لارې د توقیف ۱۴۵۸ قضیې ثبتې کړې. د توقیف له ۱۴۵۸ قضیو څخه مرکه ورکوونکو د توقیف په ۱۴۰۰ قضیو کې افغان دولت (افغان ملي پولیس د ۳۳۵ قضیو؛ افغان سیمه ییز پولیس د ۱۷ قضیو؛ د ملي امنیت ریاست د ۷۲۵ قضیو؛ د ملي امنیت ریاست ځانګړي ځواکونه د ۴۵ قضیو؛ افغان ملي اردو د ۶۹ قضیو؛ ولایتي محبسونه د ۱۵۵ قضیو او د ژړکو د اصلاح او تربیت مرکزونه د ۵۴ قضیو لپاره)؛ "د ملي پاڅون خوځښتونه"[27] د توقیف د ۹ قضیو؛ په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونه د توقیف د ۸ قضیو لپاره د هغوي د نیوونکو چارواکو په څیر په ګوته کولی شول. په پاتې ۴۱ قضیو کې مرکه ورکوونکو د هغوي نیونکي چارواکي په ګوته نه شواى کړل.

### ۴.۱. عمومي موندنې

د دغه راپور له خوا تر پوښښ لاندې نیول شوې د ځارنې په موده کې، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر موندلې چې ۳۰.۳ سلنه مرکه ورکوونکو (له ۶۵۶ څخه ۱۹۹) د افغان دولت په حراست کې له شکنجې او ناوړه چلند سره د مخ کیدو په اړه کره او باوري معلومات ورکړي. دغه شمیر د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر په تیر راپور کې چې د ۲۰۱۷ کال د جنوري د ۱ او د ۲۰۱۸ کال د ډسمبر د ۳۱ ترمنځ موده تر پوښښ لاندې نیسي، له ثبت شوې ۳۱.۹ سلنې (له ۶۱۸ څخه ۱۹۷) یو څه کموالی په ډاګه کوي.

له ۱۹۹ کسانو څخه پنځوس (۵۰) هغو یې راپور ورکړی چې هغوي له یوه توقیف ځای څخه په زیاتو هغو کې له شکنجې او ناوړه چلند سره مخ شوي. افغان دولت ته منسوب شویو د توقیف له ۱۴۰۰ قضیو څخه په ۲۵۶ (۱۸ سلنه) هغو کې توقیفیانو له شکنجې او ناوړه چلند سره د مخ کیدو په اړه کره او باوري معلومات ورکړي.

لاندنۍ برخه د مرکه ورکوونکو له خوا په ګوته شوي د هرې نیوونکې اداري له خوا له ازادۍ څخه له محروم شویو کسانو د چلند په اړه د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشر د دفتر د موندنو په اړه مفصله کتنه وړاندې کوي.

### ۴.۲. افغان ملي پولیس

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ۲۰۱۹ کال د جنوري د ۱ او ۲۰۲۰ کال د مارچ د ۳۱ ترمنځ د افغان ملي پولیسو د ولسوالۍ او/یا ولایتي کچې توقیف ځایونو په حراست کې د امنیت - یا تروریزم اړوند جرمونو لپاره له ازادۍ څخه د محروم شویو کسانو د توقیف ۳۳۵ قضیې مستندې کړې. د توقیف په دغو ۹۲ قضیو کې (**۲۷.۵ سلنه**) توقیفیانو له شکنجې یا د ناوړه چلند له نورو شکلونو سره د مخ کیدو په اړه کره او باوري معلومات ورکړي. د ۲۰۱۷-۲۰۱۸ د ځارنې مودې په پرتله کله چې یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د توقیفیانو ترمنځ د شکنجې او ناوړه چلند ۳۱.۲ سلنه (له ۱۷۹ څخه ۵۴) تورونه مستند کړل، دلته د

[27] "نادولتي وسله وال فعالین چې له دولتي ځواکونو، یاغي او جنايي ډلو جلا په جګړه کې ښکیل دي... دغه وسله والې ډلې د افغانستان د قوانینو له مخې کوم قانون بنسټ نه لري. وسله والې ډلې د ځواک په کارونه کې د وسلو د کاروني پوتنسیال لري څو سیاسي، ایډیالوژیک یا اقتصادي هدفونه ترلاسه کړي؛ دوي د دولت، د دولت د متحدینو یا دولتي سازمانونو د رسمي نظامي تشکیلاتو په داخل کې فعالیت نه کوي؛ او نه هم چیرې چې په فعالیت کوي د دولت تر کنټرول لاندې دي. په ځینو قضیو کې، وسله والې ډلې له کوربه یا نورو دولتونو څخه مستقیم/غیر مستقیم ملاتړ ترلاسه کوي." د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر، *افغانستان: په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې د ۲۰۱۴ کال کلنی راپور (۲۰۱۵) ۱۹۷ شمیره لمن لیک، پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی:* https://UNAMA/OHCHR.unmissions.org/sites/default/files/2014-annual-report-on-protection-of-civilians-final.pdf.

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر له خوا په ملي کچه د افغان ملي پولیسو په حراست کې د شکنجې او ناوړه چلند د ثبت شویو تورونو په سلنه کې کموالی لیدل کېږي.

د هغو ولایتونو ترمنځ چیرې چې یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د څارنې په موده کې له ۱۰ څخه زیات د توقیف قضیې ثبتې کړې، **د کندهار افغان ملي پولیس** د څارنې د ټولو پخوانیو مودو په څیر[28] لا اوس هم د توقیف د قضیو خورا لوړه سلنه لري، چیرې چې د شکنجې او ناوړه چلند تورنه کړه او باوري وو (له ۷۱ څخه ۴۱، **۵۷.۷ سلنه**). په داسې حال کې د هغه څه په پرتله چې د ۲۰۱۷-۲۰۱۸ د څارنې په موده کې (۷۷ سلنه) راپور شوې، سلنه راکمه شوې، د کندهار د افغان ملي پولیسو ادعا شوې کړنې اوس هم د جدي اندېښنې وړ ګڼل کېږي.

سربیره پر دې، **هرات** (له ۳۰ څخه ۱۱، ۳۶.۷ سلنه)، **سمنګان** (له ۱۱ څخه ۴، ۳۶.۴ سلنه) او **پکتیکا** (له ۳۶ څخه ۱۱، ۳۰.۶ سلنه) د ملي اوسط په پرتله تر ټولو لوړې سلنې درلودې. مشخصو ولایتونو ته د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر محدود لاس رسي په هر ولایت کې د مرکو او تورونو پر ثبت شویو شمیرو اغیز درلود؛ له دې سره سره په ځانګړې ډول د هرات، کندهار او سمنګان ولایتونو کې، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د دواړو افغان ملي پولیسو او د ملي امنیت د ریاست په حراست کې د شکنجې او ناوړه چلند د تورونو لوړې سلنې ثبت کړي (د ملي امنیت د ریاست لپاره لاندې ۴. ۳ برخه *وګورئ*).

## جدول 4.1. افغان ملي پولیس: د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او د باور وړ راپورونه

| د افغان ملي پولیسو د ولایت او ولسوالۍ په کچه مرکزونه (ګډ معلومات) | د توقیف د بېلګو شمېر | د توقیف د هغه بېلګو شمېر چیرې چې د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او د باور وړ ادعا شوې ده | د توقیف د هغه بېلګو فیصدي چیرې چې د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او د باور وړ ادعا شوې ده |
|---|---|---|---|
| **ختیځه حوزه** | | | |
| **ننګرهار** | 23 | 2 | 8.7 |
| **شمال حوزه** | | | |
| **فاریاب** | 10 | 2 | 20 |
| **سمنګان** | 11 | 4 | 36.4 |
| **شمال ختیځه حوزه** | | | |
| **بدخشان** | 43 | 4 | 9.3 |
| **بغلان** | 26 | 5 | 19.2 |
| **کندوز** | 13 | 0 | 0 |
| **سویل حوزه** | | | |
| **کندهار** | 71 | 41 | 57.7 |
| **سویل ختیځه حوزه** | | | |
| **پکتیکا** | 36 | 11 | 30.6 |
| **لویدیځه حوزه** | | | |
| **هرات** | 30 | 11 | 36.7 |
| **په ټول هیواد کې** | **335** | **92** | **27%** |

*جدول یوازې هغه ولایتونه ښیې چیرې چې یوناما د 1 جنوري 2019 څخه تر 1 مارچ 2020 پورې د توقیف د 10 څخه ډیرې بېلګې ثبت کړې دي.

[28] د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر، *په افغان حراست کې د جګړې اړوند توقیفیانو سره چلند* (اکتوبر ۲۰۱۱)؛ یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر، *په افغان حراست کې د جګړې اړوند توقیفیانو سره چلند: یوکال وروسته* (جنوري ۲۰۱۳)، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر، *په د جګړې اړوند توقیفیانو سره چلند: د شکنجې د له منځه وړلو په اړه د افغانستان د ملي پلان تطبیقول* (اپریل ۲۰۱۷)؛ یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر، *په افغانستان کې د جګړې له اړوند توقیفیانو سره چلند. د شکنجې د منع د قانون له مخې د شکنجې او ناوړه چلند مخنیوی* (اپریل ۲۰۱۹) تر ۱۷ شمیرې لاندې.

### ۱ بکس: په کندهار کې اجباري ورکیدنې

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر په ۲۰۱۷-۲۰۱۸ کې[29] د اجباري ورکیدو[30] ترلاسه شوي ۳۴ تورنه تعقیب کړي او په ۲۰۱۹-۲۰۲۰ کې درې تورنه ترلاسه کړي.

په ۲۰۱۷-۲۰۱۸ کې د ترلاسه شویو قضیو ترمنځ د اتو او په ۲۰۱۹-۲۰۲۰ کې د راغونډ شویو دریو قضیو کسان د راپور ورکولو پر مهال نامعلوم پاتې دي. لس هغه يې د کندهار ښار ته څیرمه کندهار ولایت: اوه د افغان ملي پولیسو، یو يې د ملي امنیت د ریاست د ۰۳ قطعې او دوه هغه يې د نامعلومو فعالینو له خوا نیول شوي. یو هغه يې د افغان ملي پولیسو له خوا د غزني په ښار، غزني ولایت کې نیول شوی، او کورنۍ ته يې خبر ورکړل شوی چې هغه د کندهار افغان ملي پولیسو په غوښتنه کندهار ته لیږدول شوی.

له ۱۱ هغو څخه یو هغه يې په ۲۰۱۴ کال، ۲ هغه يې په ۲۰۱۵، ۳ هغه يې په ۲۰۱۶ کال، ۴ هغه يې په ۲۰۱۷ کال او یو هغه يې په ۲۰۱۹ کال کې ورک شوي. د هغوی د کورنۍ له خوا هڅې څو د خپلو عزیزانو د برخلیک او درک په اړه معلومات ترلاسه کړي تر دې دمه بریالۍ نه وې.

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر له ځايي او مرکزي چارواکو سره مدافعه ترسره کړې چې څیړنې ترسره کړي او د بې درکه شویو د برخلیک او درک معلوم کړي؛ د هغوی کورنۍ د څیړنو د پایلو په اړه خبرې کړي؛ او مرتکبین د احتساب منګولو ته وسپاري.

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ۱۱ قضیو په تړاو د اجباري ورکیدو په اړه د ملګرو ملتونو کاري ګروپ ته معلومات لیږدولي.

## افغان سیمه ییز پولیس

افغان سیمه ییز پولیس په سیمه ییز ډول ګمارل شوي او د کورنیو چارو د وزارت تر صلاحیت لاندې کار کوي. د ۲۰۱۹ کال د جنوري د ۱ او د ۲۰۲۰ کال د مارچ د ۳۱ ترمنځ، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا د امنیت - یا تروریزم اړوند جرمونو لپاره له ازادۍ څخه د محروم شویو کسانو د توقیف ۱۷ قضیې ثبتې کړې، سره له دې چې سیمه ییز پولیس باید هغه د ملي امنیت ریاست یا افغان ملي پولیسو ته وسپاري. د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر له خوا د توقیف د ۸ ثبت شویو قضیو په تړاو (۴۷ سلنه)، توقیفیانو له شکنجې او ناوړه چلند سره د مخ کیدو په اړه کره او باوري معلومات ورکړي، چې وهل ټکول يې د اصلي تخنیک په څیر یاد کړي. دغه پېښې په راتلونکو شپږو ولایتونو کې رامنځ ته شوي: بدخشان، بلخ، کندهار، ننګرهار، پکتیا، او پکتیکا.

د هغو مرکه شویو کسانو نمونه چا چې د شکنجې او ناوړه چلند په اړه باوري راپورونه ورکړي له جغرافیايي پلوه په پراخ ډول شیندلي وو څو په یوه ځانګړې موقعیت کې د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا د توقیف شویو کسانو د چلند کومه نمونه معلومه شي. له دې سره سره د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا د هغو توقیف شویو کسانو لوړه سلنه چا چې په ټول هیواد کې د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او باوري

[29] د بشري حقونو نړیوال قانون "اجباري ورکیدل" داسې تعریفوي: اجباري ورکیدل د دولت د مختلفو څانګو یا کچو د چارواکو، یا تنظیم شویو ډلو یا د شخصي افرادو له خوا چې د هغوي استازیتوب عمل کوي، یا د دولت په مستقیم یا غیر مستقیم ملاتړ، رضایت یا ملتیا نیول، توقیف، او له ازادۍ د محرومیت بل هر ډول دی، چې په تعقیب يې له ازادۍ څخه د محرومیت نه انکار یا د ورک شوي شخص د ځای یا درک پټول رامنځ ته شوي وي، کوم څه چې دغه ډول شخص له قانون څخه بهر ساتي" (له اجباري ورک کیدو څخه د ټولو اشخصا د ساتلو نړیواله کنوانسیون/اعلامیه). د اجباري ورک کیدو په اړه د ملګرو ملتونو کاري ګروپ دا تایید کړې چې اجباري ورک کیدل پخپله شکنجه یا د منع شوي چلند نور ډولونه جوړوي، او په ډاګه کوي چې "د ورک شوي شخص په څیر د توقیف واقعیت، شخص د اوږدې مودې لپاره له کورنۍ څخه ګوښه شوی، په قطعي ډول د توقیف د انساني شرایطو سرغړونه ګڼل کیږي او دغې ډلې ته د شکنجې په څیر معرفي شوي". د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنیزه شورا، د اجباري ورکیدونو په اړه د کاري ګروپ راپور (۱۹۸۳) (E/CN.4/1983/14)، ۱۳۱ پاراګراف. افغانستان له اجباري ورکیدو څخه د ټولو افرادو د ساتنې نړیوال کنوانسیون نه دی تایید کړی. د ۲۰۱۸ کال د جزا قانون اجباري ورکیدل د بشریت په ضد د جرم د تشکیلوونکي عنصر په څیر جرم ګڼي (۳۳۵ ماده)، نه د یوه مستقل جرم په څیر.

[30] یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر، *په افغانستان کې د جګړې اړوند توقیفیانو سره چلند: د شکنجې د منع قانون له مخې د شکنې او ناوړه چلند مخنیوی* (اپریل ۲۰۱۹).

معلومات ورکړي، د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا د توقیفیانو د سمبالولو د نړیدي څارنې او له افغان قانون او د بشري حقونو د نړیوال قانون له معیارونو سره د ښه تطابق لپاره د هغوي د روزنې اړتیا په ډاګه کوي.[31]

## ۴.۳. د ملي امنیت ریاست

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ملي امنیت د ریاست له خوا د امنیت - یا تروریزم اړوند جرمونو لپاره له ازادۍ څخه د محروم شویو کسانو د توقیف ۷۲۵ قضیې ثبتې کړې. د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر له خوا ثبت شویو د توقیف له دغو قضیو څخه په ۱۱۶ **(۱۶ سلنه)** هغو کې مرکه ورکوونکو له شکنجې او د ناوړه چلند له نورو شکلونو سره د مخ کیدو په اړه کره او باوري معلومات ورکړي. د ۲۰۱۷-۲۰۱۸ د څارنې د مودې په پرتله چیرې چې یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر ۲۵.۱ سلنه (له ۵۱۰ څخه ۱۲۸) مستند کړې، د ملي امنیت د ریاست په حراست کې په ملي که د شکنجې د تورونو په سلنه کې کموالی رامنځ ته شوي. یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ملي امنیت د ریاست په حراست کې د شکنجې او ناوړه چلند د تورونو په سلنه کې د دوامدار کموالي هرکلی کوي.

په ولایتي کچه، د ملي امنیت د ریاست د حراست پرمهال د کسانو د شکنجې او ناوړه چلند د تورونو تر ټولو لوړه سلنه د **غور** (له ۱۲ څخه ۹، ۷۵ سلنه)؛ **هلمند** (له ۱۴ څخه ۴، ۳۳ سلنه)؛ **هرات** (له ۳۷ څخه ۱۱، ۳۰ سلنه)؛ **سمنګان** (له ۲۹ څخه ۷، ۲۴ سلنه)؛ **کندهار** (له ۴۷ څخه ۱۱، ۲۳ سلنه)؛ او **د کابل د ملي ۲۴۱ ریاست** (له ۳۴ څخه ۷، ۲۰.۶ سلنه) په تړاو رامنځ ته شوې. د شکنجې او ناوړه چلند لوړې سلنې چې له دغو ولایتونو څخه د ملي امنیت ریاست ته منسوب شوې، جدي اندېښنې را ولاړوي.

### جدول 4.2. ملي امنیت ریاست: د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او د باور وړ راپورونه

| د ملي امنیت د ولایت او ولسوالۍ په کچه مرکزونه (ګډ معلومات) | د توقیف د بېلګو شمېر | د توقیف د هغه بېلګو شمېر چیرې چې د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او د باور وړ ادعا شوې ده | د توقیف د هغه بېلګو فیصدي چیرې چې د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او د باور وړ ادعا شوې ده |
|---|---|---|---|
| **مرکزي حوزه** | | | |
| **کابل** | 20 | 2 | 10 |
| **پروان** | 13 | 2 | 15.4 |
| **د کابل د ملي امنیت مرکز 241** | 34 | 7 | 20.6 |
| **دکابل د ملي امنیت مرکز 501** | 45 | 0 | 0 |
| **د پروان په توقیفخانه کې د امنیت ملي مرکز 241** | 33 | 1 | 3 |
| **د پروان په توقیفخانه کې د امنیت ملي مرکز 501** | 18 | 1 | 5.6 |
| **ختیځه حوزه** | | | |
| **کنړ** | 28 | 4 | 14.3 |
| **لغمان** | 25 | 5 | 20 |
| **ننګرهار** | 53 | 5 | 9.4 |
| **شمال حوزه** | | | |
| **بلخ** | 42 | 7 | 16.7 |
| **فارياب** | 15 | 1 | 6.7 |
| **سمنګان** | 29 | 7 | 24.1 |
| **شمال ختیځه حوزه** | | | |

[31] د ۲۰۲۰ کال سپتمبر پورې ، افغان سیمه ییز پولیس په رسمي ډول منحل شول، او ډیری غړي یې یا د افغان ملي اردو - سیمه ایز ځواک او افغان ملي پولیسو ته انتقال شوي یا یې وسلې شوي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| بدخشان | 43 | 2 | 4.7 |
| بغلان | 34 | 6 | 17.6 |
| کندوز | 40 | 9 | 22.5 |
| تخار | 14 | 1 | 7.1 |
| سویل حوزه | | | |
| هلمند | 12 | 4 | 33.3 |
| کندهار | 47 | 11 | 23.4 |
| سویل ختیځه حوزه | | | |
| خوست | 38 | 6 | 15.8 |
| پکتیکا | 25 | 3 | 12 |
| پکتیا | 33 | 5 | 15.2 |
| لویدیځه حوزه | | | |
| هرات | 37 | 11 | 29.7 |
| غورss | 12 | 9 | 75 |
| **په ټول هیواد کې** | **725** | **116** | **16 %** |

*جدول یوازې هغه ولایتونه ښيي چیرې چې یوناما د 1 جنوري 2019 څخه تر 1 مارچ 2020 پورې د توقیف د 10 څخه ډیرې بېلګې ثبت کړې دي.

## د ملي امنیت ځانګړي ځواکونو او د خوست ساتني ځواک

د ملي امنیت د ریاست له خوا د تر لاسه شویو معلوماتو سره سم، د ملي امنیت د ریاست هیڅ عملیاتي او ځانګړی واحد د توقیف خپل ځایونه نه لري. د نیونې پرمهال، د ملي امنیت د ریاست ځانګړي واحدونه د جرمونو د ترسره کولو شکمن کسان په کابل یا ولایتي مرکزونو کې د ملي امنیت د ریاست حراست خونو ته راجع کوي.

له دې سره سره، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ملي امنیت د ریاست د مختلفو ځانګړو ځواکونو له خوا د توقیف ۳۳ قضیې ثبتې کړې؛ د ملي امنیت ریاست ۰۱ قطعه (۷ قضیې)، د ملي امنیت ریاست ۷۵۵ قطعه (۲ قضیې)، په کونړ کې د ملي امنیت ریاست ۰۴ قطعه (۳ قضیې)، په ننګرهار کې د ملي امنیت د ریاست ۰۲ قطعه (۲ قضیې)، په بلخ کې نا معلوم واحد (۲ قضیې)، په کندز کې د ملي امنیت د ریاست ۰۹ قطعه (۱ قضیه)، په کندهار کې د ملي امنیت د ریاست ۰۳ قطعه (۱۳ قضیې)، په کندهار کې د ملي امنیت ۰۶ قطعه (۱ قضیه) او په هلمند کې نا معلوم واحد (۲ قضیې). سربیره پر دې یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د خوست ساتنې د ځواک له خوا ۱۲ قضیې ثبتې کړې. د توقیف له دغو قضیو په ۱۹ هغو کې، مرکه ورکوونکو د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو قطعو او د خوست ساتني ځواک له خوا د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او باوري معلومات ورکړي.

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ملي امنیت د ریاست د ۰۳ قطعې له خوا په کندهار کې د توقیف ۱۳ قضیې ثبتې کړې: د توقیف له دغو قضیو څخه په ۹ هغو کې توقیفیانو په کره او باوري ډول د شکنجې ادعا کړې (۶۹ سلنه). په داسې حال کې چې د ۲۰۱۷-۲۰۱۸ مودې (۴۵) په پرتله د توقیف د قضیو شمیر ټیټ دی، د تورونو سلنه لوړه ده (په تیره موده کې ۳۷.۷ سلنه وه).

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر همدارنګه د خوست ساتنې د ځواک له خوا د توقیف ۱۲ قضیې ثبتې کړې؛ په یوې هغې کې د یوه توقیفي له خوا په کره او باوري ډول د شکنجې ادعا شوې.

### ۴.۴. افغان ملي اردو

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د افغان ملي اردو له خوا د امنیت - یا تروریزم اړوند جرمونو لپاره له ازادۍ څخه د محروم شویو کسانو د توقیف ۵۹ قضیې ثبتې کړې او مخکې تر دې چې کسان له خپلې ازادۍ محروم شي، د ملي امنیت ریاست یا افغان ملي پولیسو ته لیږدول شوي. یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر له خوا د توقیف په ۱۴ ثبت شویو قضیو کې (۲۳.۷ سلنه)، توقیفیانو له شکنجې او ناوړه چلند سره د مخ کیدو په اړه کره او باوري راپورونه ورکړي. د افغان ملي اردو له خوا ترسره

شوې دغه پېښې په ۱۰ ولايتونو کې رامنځ ته شوي؛ کاپيسا (۱ قضيه)، لوګر (۱ قضيه)، بلخ (۱ قضيه)، فارياب (۲ قضيې)، کندز (۲ قضيې)، نيمروز (۲ قضيې)، غزني (۱ قضيه)، خوست (۱ قضيه)، پکتيا (۱ قضيه)، او هرات (۲ قضيې).

په داسې حال کې چې يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر د افغان ملي اردو له خوا د بندي شويو هغو کسانو د لوړې سلنې په اړه انديښمن دي چا چې د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او باوري راپورونه ورکړي، د دغو راپورونو بېلګې له جغرافيايي پلوه په پراخ ډول شيندلې وې، چې له امله يې نه شواى کېدلی په يوه ځانګړي موقعيت کې د دغې ډلې له خوا له توقيف شويو کسانو سره د چلند کومه نمونه په ګوته شي.

## په پروان کې افغان ملي توقيف ځاى

په پروان کې افغان ملي توقيف ځاى د توقيف يوه قرارګاه ده چې په پروان ولايت کې موقعيت لري. دغه توقيف ځاى د دفاع وزارت له خوا د ملي پوځ د ستر جنرال په قومانده اداره کېږي او ساتنه يې د افغان ملي اردو د پوځي پوليسو د ساتونکو له خوا ترسره کېږي. دا د ملي امنيت د يوه جلا اداره شوي توقيف ځاى سره نږدې موقعيت لري چېرې چې د ملي امنيت د رياست ۲۴۱/۰۴۱ (له تروريزم سره د مبارزې رياست) او ۵۰۱/۰۴۹ (د تحقيقاتو رياست) واحدونه قرار لري.

د څارنې د مودې پرمهال، يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر د افغان ملي اردو له خوا د امنيت - يا تروريزم سره د اړوند جرمونو لپاره له ازادۍ څخه د محروم شويو کسانو د توقيف ۱۰ قضيې ثبتې کړې. د يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر د دفتر له خوا ثبت شوې د توقيف په يوه قضيه کې توقيفي په کره او باوري ډول د افغان ملي اردو د پرسونل له خوا د شکنجې او ناوړه چلند ادعا کړې.
يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر په پروان کې په افغان ملي توقيف ځاى کې د ۲۰۱۹ کال د راپور تر خپرېدو وروسته د افغان ملي اردو له خوا د يوازيني تاديبي اقدام په څير د انفرادي سلولونو د کارونې د تعليق هرکلى کوي. په ورته وخت کې، يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر دا ملاحظه کړې او په دې اړه انديښمن دي چې په پروان کې د افغان ملي اردو په افغان ملي توقيف ځاى کې د رواني-ټولنيز معلوليت لرونکي يو شمير بنديان د معلوليت لرونکو کسانو له کنوانسيون چې افغانستان يې د ۲۰۱۲ کال راهيسې غړيتوب لري، څخه په سرغړونې او له کافي رواني يا طبي پاملرنې پرته په انفرادي بند کې پاتې دي.[32]

يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر دغه راز له انديښنې سره د دې يادونه کوي چې د نورو ولايتي محبسونو خلاف، په پروان کې افغان ملي توقيف ځاى د بنديانو لپاره د اصلاح يا ښوونيز پروګرام نه لري څو هغوي تر خوشې کېدو وروسته له ټولنې سره بيرته د يو ځاى کيدو لپاره چمتو کړي، لکه د حرفوي مهارتونو روزنه کوم چې ښايي د دې شونتيا زياته کړې چې خوشې شوي بنديان بيرته له وسله والو ډلو سره نه يو ځاى کېږي يا په جنايي کړنو کې نه ښکيل کېږي.

مدافع وکيلانو ته د لاس رسي په تړاو، يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر ملاحظه کړې چې په پروان کې افغان ملي توقيف ځاى کې د ملي امنيت د رياست مرکزونو ته د هغوي لاس رسي محدود دى، په اونۍ کې يوازې دوه ورځې. وکيلان په پروان کې په افغان ملي توقيف ځاى کې د ملي اردو مرکز ته هره ورځ تلاى شي؛ خو له دې سره سره، هغوي بايد د افغانستان د مدافع وکيلانو له خپلواکې ټولنې څخه د توقيف ځاى چارواکو لپاره يو رسمي مکتوب ولري چې له خپلو موکلينو سره د ليدنې غوښتنه کوي. دغه ډول محدوديتونو د وکيلانو لپاره دا ستونزمنه کړې چې له خپلو موکلينو سره کافي وخت ولري، په تيره بيا د کابل او دغه مرکز ترمنځ د تګ راتګ لپاره د سفر د وخت په پام کې نيولو سره. يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر همدارنګه ملاحظه کړې چې نوموړى توقيف ځاى لا اوس هم خونې نه لري چې وکيلان له خپلو موکلينو سره په خصوصي ډول ليدنې ترسره کړي.

### ۴. ۵. د محبسونو د تنظيم اداره

د ۲۰۲۰ کال په جنوري د محبسونو د اصلاحاتو په رڼا کې، ولايتي محبسونه او د ژنکو د اصلاح او تربيت مرکزونه د محبسونو د تنظيم تر اداري لاندې راغلل. يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر زياتره مرکې په محبسونو او د ژنکو په اصلاح مرکزونو کې مخکې تر دې چې ليرد صورت وموي، ترسره کړې، د کوويډ-۱۹ د خپريدو له امله راتلونکې مونډنې تر پخواني مديريت لاندې حالاتو ته راجع کيږي (ولايتي محبسونه د کورنيو چارو د وزارت او د ژنکو د اصلاح او تربيت مرکزونه د عدليې وزارت تر صلاحيت لاندې وو).

[32] د بشري حقونو شورا، د معلوليت لرونکو اشخاصو حقونه: د معلوليت لرونکو اشخاصو د حقونو په اړه د ځانګړي خبريال راپور (A/HRC/40/54) (2019) چې په معلوليت او له آزادۍ څخه محروم شويو کسانو باندې تمرکز کوي، وګورئ.

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر په ولایتي محبسونو زیاتره هغه یې د ولایتي محبسونو په توقیف ځایونو کې د امنیت - یا تروریزم اړوند جرمونو لپاره له ازادۍ څخه د محروم شویو کسانو د توقیف ۱۵۵ قضیې ثبتې کړي. د توقیف د دغو قضیو د پنځو هغو په تړاو، مرکه ورکوونکو په کره او باوري ډول د شکنجې او ناوړه چلند ادعا کړې. د توقیف دغه پنځه قضیې د څلورو راتلونکو ولایتونو په تړاو دي: کاپیسا (۱ قضیه)، پروان (۱ قضیه)، بغلان (۲ قضیې)، او کندهار (۱ قضیه).

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ژېکو د اصلاح او تربیت په مرکزونو کې د توقیف ۵۴ قضیې ثبتې کړې؛ کابل (۲۵ قضیې)، لوګر (۱ قضیه)، لغمان (۲ قضیې)، ننګرهار (۹ قضیې)، سمنګان (۲ قضیې)، بدخشان (۳ قضیې)، بغلان (۱ قضیه)، کندز (۳ قضیې)، کندهار (۱ قضیه)، اروزګان (۱ قضیه)، غزني (۲ قضیې)، خوست (۲ قضیې) او هرات (۲ قضیې). په لغمان ولایت کې د ژېکو د اصلاح او تربیت مرکز د توقیف د یوې قضیې په تړاو، یوه ماشوم د ژېکو د اصلاح او تربیت په یوه مرکز کې د شکنجې او ناوړه چلند ادعا کړې.

## ۴. ۶. له ازادۍ څخه محروم شوي ماشومان

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ۸۲ هلکانو او ۳ نجونو په ګډون د امنیت - یا تروریزم اړوند جرمونو لپاره له ازادۍ څخه د ۸۵ محروم شویو ماشومانو سره مرکې ترسره کړې.[33] هغه ماشومان چې مرکې ورسره شوي خپل ځانونه یې د ۱۰ او ۱۸ کلنو ترمنځ معرفي کړي. ماشوم د توقیف له مختلفو ځایونو تیریږي تر څو چې هغوي د ژېکو د اصلاح او تربیت ولایتي مرکز یا په کابل کې د ژېکو د اصلاح او تربیت مرکز ته ورسیږي. یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر له ۸۵ مرکو څخه د ماشومانو د توقیف ۲۴۱ قضیې ثبتې کړي.

د ۲۰۱۷-۲۰۱۸ کال د څارنې د مودې د حالت په څیر، ماشومان لا اوس هم د شکنجې او ناوړه چلند سره د مخ کیدو له لوړ خطر مخ دي او ښکاري چې دغه وضعیت د ملي امنیت د ریاست په حراست کې لا اوس هم ادامه لري.

د افغان ملي پولیسو په حراست کې د ماشومانو د توقیف د ۵۳ قضیو په تړاو، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د توقیف ۱۳ داسې قضیې ثبتې کړې چیرې چې ماشومانو په کره او باوري ډول د شکنجې او ناوړه چلند ادعا کړې (۲۴ سلنه). د افغان ملي پولیسو په حراست کې د ماشومانو له خوا د کره او باوري تورونو سلنه د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر له خوا د افغان ملي پولیسو په حراست کې د توقیف د ټولو ثبت شویو قضیو په پرتله ټیټه وه (۲۷.۵ سلنه، پورتنۍ ۴. ۲ برخه وګورئ).

د ملي امنیت د ریاست په حراست کې د ماشومانو د توقیف د ۹۴ قضیو ترمنځ، مرکه ورکوونکو د توقیف د ۲۳ قضیو (۲۴.۵ سلنه) په تړاو د شکنجې او ناوړه چلند په کافي ډول کره او باوري تورونه وړاندې کړي. د ملي امنیت د ریاست په حراست کې دغه سلنه د ملي امنیت د ریاست په حراست کې توقیف د ټولو ثبت شویو قضیو په پرتله لوړه وه (۱۶ سلنه، پورته ۴. ۴ سلنه وګورئ).

څرنګه چې د ملي امنیت په ریاست (۹۴، ۲۱ هغه یې په کابل کې د ملي امنیت په ۵۰۱ ریاست کې)او افغان ملي پولیسو (۵۳)کې د توقیف د قضیو د شمیر له خوا په ډاګه شوه، ماشومان د ژېکو د اصلاح او تربیت د مرکزونو پر ځای په نورو ځایونو کې بندي شوي. د ازادۍ د سلب د مرکزونو د مدیریت قانون (۲۰۲۰) تصریح کوي چې د ژېکو د اصلاح او تربیت مرکزونه باید هغه مرکزونه وي چیرې چې باید شکمن، تورن یا محکوم شوي ماشومان وساتل شي (۳ (۵) ماده).[34]

### جدول 4.3. ماشومان: د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او د باور وړ راپورونه

| د تو قیف د هغه بېلګو فیصدي چیرې چې د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او د باور وړ ادعا شوې ده | د تو قیف د هغه بېلګو شمېر چیرې چې د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او د باور وړ ادعا شوې ده | د توقیف د بېلګو شمېر | دفترونه |
|---|---|---|---|
| 24.5 | 13 | 53 | افغان ملي پولیس |

[33] د ۲۰۰۵ کال د ژېکو قانون ماشوم د یوه داسې کس په څیر معرفي کوي "چا چې د ۱۸ کلنۍ عمر نه وي بشپړ کړی" (۴ (۱) ماده) او د جنايي مکلفیت دوره د ۱۳ کلنۍ عمر ټاکي (۵ ماده).
[34] د ۲۰۰۵ کال د ژېکو قانون، ۲۰مه ماده (۴).

| | | | |
|---|---|---|---|
| **افغان محلي پولیس** | 8 | 4 | 50 |
| **ملي امنیت ریاست، ملي امنیت ریاست 241 او501، د پروان په توقیفخانه کې د ملي امنیت ریاست 241 او501** | 94 | 23 | 245 |
| **د ملي امنیت ریاست ځانګړی ځواک (د خوست د ساتنې قطعه 01)** | 4 | 1 | 25 |
| **افغان ملي اردو** | 6 | 2 | 33.3 |
| **د زندانونو د تنظیم اداره** | 14 | 0 | 0 |
| **دماشومانو د اصلاح اوتربیت مرکز** | 53 | 1 | 1.9 |
| **نامعلوم / نور** | 9 | 4 | 44.4 |
| **په ټول هیواد کې** | **241** | **48** | **19.9 %** |

*جدول یوازې هغه ولایتونه ښيي چېرې چې یوناما د 1 جنورۍ 2019 څخه تر 1 مارچ 2020 پورې د توقیف د 10 څخه ډیرې بېلګې ثبت کړې دي.

## ۴. ۷. د شکنجې او ناوړه چلند طریقې

د شکنجې او ناوړه چلند د هغو طریقو په اړه د کره او باوري تورونو پر بنسټ چې د افغان حکومت د پرسونلو له خوا کارول شوي او څرنګه چې د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر له خوا د مرکو له لارې راغونډې شوې، دغه طریقې په دریو کټګوریو ویشل شوې: (۱) هغه فیزیکي طریقې (لکه وهل ټکول، په لغتو وهل) چې د دې احتمال لري چې د کاروونې پر مهال د قرباني پر بدن څرګندې نښې نښانې پریږدي؛ (۲) هغه فیزیکي طریقې (لکه تربټول) چې د دې لږ احتمال لري چې د کاروونې پر مهال د قرباني پر بدن څرګندې نښې نښانې پریږدي؛ (۳) غیر فیزیکي طریقې (لکه رواني یا شفاهي تیرى). د هرې کټګورى لپاره د ثبت شویو طریقو د بشپړ لست لپاره، ۴. ۴. جدول وګورئ).

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر ثبت کړي چې د دواړو افغان ملي پولیسو او د ملي امنیت د ریاست په حراست کې د اوسیدو پرمهال هغه فیزیکي طریقې چې د عملي کولو پر مهال د قرباني پر بدن څرګندې نښې نښانې پریږدي، معمول وې. د افغان ملي پولیسو په حراست کې تر ټولو معمول طریقه وهل ټکول او د ملي امنیت د ریاست په حراست کې په څپېړه وهل وو.

د هغو فیزیکي طریقو په اړه چې د دې لږ احتمال لري چې د قرباني پر بدن څرګندې نښې نښانې پریږدي، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د توقیف ۸ داسې قضیې چېرې چې توقیفیان د مایعاتو څښلو ته اړ ایستل شوي (لکه قرباني د خولې پرانستلو ته اړ ایستل او په خوله کې اوبه ور اچول او له اوبو په ډک سطل کې د قرباني د سر ډوبول)، او د افغان ملي پولیسو په حراست کې د تربټولو ۱۳ قضیې ثبتې کړې. یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر دغه راز د دواړو د ملي امنیت د ریاست او افغان ملي پولیسو په حراست کې د بریښنایي شاکونو او توقیفیانو د په نا ارام/سټرس حالت کې د ساتلو ۱۰ یا زیاتې قضیې ثبتې کړې.

د دواړو د ملي امنیت د ریاست او افغان ملي پولیسو په حراست کې د پوښتنو ګرویږنو/استنطاق یا د توقیف پر مهال د ټول وخت لپاره له ۲۰ څخه په زیاتو قضیو کې د سترګو ترلو یا سر ته کڅوړه اچولو په اړه په کره او باوري ډول ادعا شوې. (د سترګو د ترلو او سر ته د کڅوړې اچولو د حقوقي شننې لپاره لاندنۍ ۲ بکس وګورئ). د یادونې وړ ده چې د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر له ۶۵۶ مرکه ورکوونکو څخه ۹۸ هغو یې په کره او باوري ډول د دې ادعا کړې چې د نیونې پر مهال د هغوی سترګې تړل شوې. له دغو ۹۸ مرکه ورکوونکو څخه، ۶۶ هغه یې د ملي امنیت د ریاست، د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو او خوست د ساتنې د ځواک، ۱۷ د افغان ملي پولیسو؛ ۷ د افغان سیمه ییزو پولیسو؛ ۳ یې د افغان ملي اردو؛ ۱ یې د ګډو افغان امنیتي ځواکونو؛ ۱ یې د نړیوالو نظامي ځواکونو؛ او ۳ هغه یې د نامعلوم لوري له خوا نیول شوي.

د غیر فیزیکي طریقو په تړاو، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر زیات شمیر داسې پیښې ثبتې کړې چېرې چې د دواړو د ملي امنیت د ریاست (۵۱) او افغان ملي پولیسو (۲۹) په حراست کې له ازادۍ څخه محروم شوي کسان له تهدیدونو (لکه د توقیفي د کورنۍ د غړو په وړاندې د تاوتریخوالي یا د اوږدې مودې د حبس ګواښونه) سره مخ شوي.

## جدول 4.4. دشکنجې او ناوړه چلند میتودونه

| | ملي امنیت ریاست | افغان ملي پولیس |
|---|---|---|
| میتودونه چې کیدای شي نښې پر ځای پریږدي | | |
| وهل ډبول (د پښو په شمول د بدن په مختلفو برخو باندي د وهلو ټکولو ګډې بېلګې) | 27 | 48 |
| په پایپ / کیبل سره وهل | 17 | 27 |
| ستنې دننه کول | 0 | 2 |
| هغه فزیکي میتودونه چې د نښو پرېښودو احتمال یې لږ وي | 29 | 33 |
| خپه ورکول | 3 | 4 |
| څپېړه وهل | 32 | 9 |
| ځورندول | 1 | 4 |
| میتودونه چې د نښو پرېښودو احتمال یې لږ وي | | |
| سترګې تړل (په سر کځوړه اغوستلو په شمول د تفتیش پر مهال یا ټوله وخت | 20 | 23 |
| د مایعاتو څښلو ته اړ ایستل (په مخ باندي اوبه تویولو په شمول) | 3 | 8 |
| برق ورکول | 13 | 10 |
| لاسونو ته زولنې اچول د تفتیش پر مهال او یا ټوله وخت | 16 | 16 |
| د وریښتانو کشول | 6 | 4 |
| جنسي تیرى (تناسلي غړو باندي وهل ټکول او د تناسلي غړو د کشولو په شمول) | 4 | 4 |
| د خوب څخه محروموت | 6 | 1 |
| د فشار په حالت کې اچول | 18 | 11 |
| خپه کول (د تنفس بندولو په شمول) | 4 | 13 |
| غیر فزیکي میتودونه | | |
| سپکاوى / ذلیله کول | 11 | 14 |
| ګواښونه | 51 | 29 |
| جنسي ګواښونه | 4 | 4 |

### ۲ بکس: د شکنجې او ناوړه چلند د طریقو په څیر د سترګو تړل او سر ته کځوړه اچول

د سر په پټولو کې د کځوړې یا بورى په وسیله په بشپړ ډول د یوه شخص د سر پټول شامل دي. د سترګو تړل د یوې مادې په وسیله یا د تورو عینکو په واسطه د یوه شخص د سترګو پټول دي.

د سترګو تړل او سر ته کځوړه اچول له دغه عمل سره پر مخ کیدونکې شخص فیزیکي او رواني اغیزې لري. سر ته کځوړه اچول له افراد له نورمال لید، اوریدو، تنفس او د بوی له حس څخه یې برخې کوي. دغه زیانونه د توازن او همغږۍ له لاسه ورکولو لامل کیږي. له پخوا څخه موجوده روغتیایي ستونزې او رواني اختلالات شاید د سترګو تړلو او سر ته کځوړې اچولو پر مهال د تنفس د ناوړه کیدو لامل

شي. د دغو کړنو په جریان کې حسي محرومیت کولی شي رواني اغیزې لکه وېره، اضطراب، د لوړې کچې فشار، انحراف، او د ناتوانۍ احساس رامنځ ته کړي.[35]

د سترګو تړل او سر ته کڅوړه اچول د حقوقي اجراآتو عواقب هم لري. په هغو قضايي حوزو کې چې د مثبتې بصري پېژندنې غوښتنه کوي، دغه ډول کړنې قرباني ناتوانه کوي څو هغه شخص معلوم کړي چا چې هغوي شکنجه کړي یا یې ورسره ناوړه چلند کړی، کوم څه چې د شکنجې عدلي تعقیب نړدې ناشونی کوي.[36]

### د شکنجې او ناوړه چلند د یوې طریقې په څېر د سترګو تړل او سر ته کڅوړه اچول

د شکنجې د منع کمېټې موندلې چې د پوښتنو ګرویرنو پر مهال "تر ځانګړو شرایطو لاندې د شخص سر ته کڅوړه اچول" شکنجه تشکیلوي.[37] نوموړې کمېټې ملاحظه کړې چېرې چې سر ته کڅوړه اچول د پوښتنو ګرویرنو له نورو جبري طریقو سره یو ځای کارول شوي وي "نتیجه ګیري په ځانګړې ډول څرګنده ده".[38]

په واقعیت کې حسي حرمان د شکنجې او ناوړه چلند د یوې طریقې په څېر ګڼل شوی. د مثال په ډول، د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا د موثرې څېړنې او مستندونې په اړه د ملګرو ملتونو لاسي کتاب (د استانبول پروتوکول) "د طبیعي حسي تحریک څخه حرمان لکه غږ، رڼا یا د وخت حس" د شکنجې د طریقې په څېر شمېري.[39] د توقیف یا حبس تر هر ډول لاندې د ټولو خلکو د ساتنې لپاره د اصولو  ټولګه هم په څرګند ډول تصریح کوي چې د "ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا" اصطلاح داسې تفسیر او تعبیر شي چې ... "په داسې شرایطو کې د توقیف شوي یا حبس شوي شخص بندي کول کوم چې هغه په موقت یا دایمي ډول د خپلو طبیعي حواسو لکه لید یا اوریدو له کارونې یا د ځای یا د وخت د تیریدو څخه له خبریدو بې برخې کوي" راونغاړي.[40]

د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا په اړه د ملګرو ملتونو ځانګړی راپورتر (د شکنجې په اړه د ملګرو ملتونو ځانګړی راپورتر) په ډاګه کړې چې رواني شکنجه کیدای شي له حسي حرمان د اقدامات د تراکم لامله را منځ ته کیدای شي په کوم کې چې د سترګو تړل او سر ته کڅوړه اچول هم شامل دي.[41]

### د سترګو د تړلو او سر ته کڅوړې اچولو د پرېکنده منع غوښتنه

د بشري حقونو مختلفو نړیوالو میکانیزمونو د دې سپارښتنه کړې چې دولتونه په صریح ډول د سترګو تړل او سر ته کڅوړه اچول منع کړي. د هغو راپورونو د بیا کتنې د یوې برخې په څېر چې د غړو دولتونو له خوا د مدني او سیاسي حقونو په اړه نړیوال کنوانسیون ته سپارل شوي، د بشري حقونو کمېټې په ۲۰۰۶ کې په ډاګه کړه چې حسي حرمان او سر ته کڅوړه اچول د شکنجې او ناوړه چلند له ممنوعیت سره په نقض کې دي. کمېټې بیا په ډاګه کړه چې د پوښتنو ګرویرنو تخنیکونه باید له دغه ممنوعیت سره په تطابق کې وي. د شکنجې په اړه د ملګرو ملتونو ځانګړي راپورتر لا وار د مخه ملاحظه کړې وه چې سترګې تړل او سر ته کڅوړه اچول باید منع شي.

---

[35] د عدلي طب کارپوهانو نړیوال ګروپ، "سر ته د کڅوړې اچولو په اړه اعلامیه"، د *شکنجې جورنال*، ۲۱ ټوک، ۳ ګڼه (۲۰۱۱)، ۱۸۸ مخ، پر دغې انټرنیټ پاڼې د لاس رسي وړ دی: https://irct.org/publications/torture-journal/115.

[36] د شکنجې د منع کمېټه، نهايي ملاحظات: فلیپین (۲۰۱۶)(CAT/C/PHL/CO/3)۲۰-۱۹ پاراګرافونه؛ د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني او له سپکاوي ډک چلند یا سزا په اړه ځانګړی ریپورتر، *د شکنجې په اړه د ځانګړي ریپورتر عمومي سپارښتنې (۲۰۰۳)* (E/CN.4/2003/68)، *۲۶ (جی) پاراګراف.*

[37] د شکنجې د منع کمېټه، د کنوانسیون د ۱۹ مادې له مخې د غړو دولتونو له خوا د سپارل شویو راپورونو په پام کې نیول- د اسرائیلو ځانګړی راپور (۱۹۹۷) (CAT/C/SR.297/Add.1)، ۵ او ۸ (۱) پاراګرافونه.

[38] د شکنجې د منع کمېټه، د اسرائیلو ځانګړی راپور، *همدا ماخذ*، ۵ پاراګراف. د توقیف په څارنه کې، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر مستند کړې چې د پوښتنو ګرویرنو پرمهال د سترګو تړلو او سر ته کڅوړې اچولو زیاتره پېښې د شکنجې او ناوړه چلند له نورو طریقو سره ملې وې.

[39] د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر، *د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا د موثرې څېړنې او مستندونې په اړه لاسي کتاب* (۲۰۰۴)، ۱۴۵ (ان) پاراګراف، *پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی:* https://www.un.org/ruleoflaw/files/training8Rev1en.pdf.

[40] د توقیف یا حبس تر هر ډول لاندې د ټولو خلکو د ساتنې لپاره د اصولو بدنه، ۱ عمومي فقره.

[41] د بشري حقونو شورا، *د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا، د شکنجې په اړه د ځانګړي راپورتر راپور* (۲۰۲۰) (A/HRC/43/49)، ۵۴ پاراګراف.

# ۵. د شکنجې او ناوړه چلند مخنیوي لپاره اجراآتي محافظتونه

د شکنجې د منعې کنوانسیون د افغانستان حکومت مکلفوي چې نه یوازې د شکنجې او ناوړه چلند مخه ونیسي، بلکه د شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوي لپاره مؤثره تدبیرونه هم غوره کړي.[42] د شکنجې ضد کمیټې د افغانستان حکومت ته سپارښتنه کړې چې دواړه په قانوني لحاظ او په عمل کې داډ ترلاسه کړي چې ټولو توقیفیانو ته د آزادۍ د محرومیت له پیل څخه ټول بنسټیز حقوقي محافظتونه ورکړل شي او همدارنگه هغوی باید د خپلو حقونو په اړه خبر کړای شي، سمدستي خپلواکه حقوق او طبي مرستې ترلاسه کړي او د خپلوانو سره اړیکه ونیسئ[43]. همدغه راز، د افغانستان د شکنجې ضد قانون د لوېي څارنوالۍ، د کورنیو چارو وزارت، د ملي امنیت ریاست او د ملي دفاع وزارت ملکفوي چې د شکنجې د مخنیوي لپاره تدبیرونه غوره کړي (۸مه ماده). د پام وړ خبره دا ده چې، د شکنجې او ناوړه چلند پروړاندې ډېرې هغه حقونه چې د اساسي محافظتونو په توګه ګڼل شوي، د افغانستان اساسی قانون، د جزایي اجراآتو قانون او نورو اړوند قوانینو لخوا تضمین شوي. یاد حقونه په لاندې برخو کې خلاصه شوي دي.

د ۲۰۱۹ کال له جنوري راهیسې، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) /د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر(OHCHR) په ډیر سیستماتیک ډول د داسې محافظتونو د پلي کولو په اړه معلومات راټولوي. د موندنو یوه اجمالي کتنه په لاندې ډول وړاندې شوې چې د شکنجې او ناوړه چلند مخنیوي لپاره د ګڼ شمر محافظتي اقدامات د پلي کیدو څرنګوالی په ګوته کوي چې د یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر لخوا له آزادۍ څخه محروم شویو افرادو سره مرکې ترسره شوې چې د امنیت او ترورېزم پورې اړوند د تورونو په تړاو تر توقیف لاندې وو.

## ۵.۱. د حقونو په اړه معلومات

نړیوال معیارونه وړاندیز کوي چې د توقیف مسئولین باید په سمدستي توګه یو توقیفي ته د هغه د حقونو په اړه په هغه ژبه خبر کړي چې پرې پوهیږي[44]. د خپلو حقونو څخه خبر کیدل د شکنجې او ناوړه چلند څخه د مخنیوي لپاره یو له مهمو تضمینونو څخه دی.[45]

د جزایي اجراآتو قانون تصریح کوي چې " پولیس د نیولو پر وخت، څارنوال د تحقیق پیل کولو دمخه او قاضي د محاکمې پیل کولو دمخه مکلف دي، ددې قانون په اوومه ماده کې درج شوي حقوق[46] مظنون او تورن یا د هغوی قانوني استازي ته څرګند او موضوع په محضر کې درج، د هغوی لاسلیک او د ګوتې نښه واخلي."(۸مه ماده).

یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د څارنې په موده کې د توقیف ۱۴۵۸مستند شویو مواردو څخه یوازې د توقیف لږ موارد ثبت کړي په کوم کې چې توقیفیان د پښتونو ګرویرنو څخه دمخه د خپلو حقونو څخه خبر شوي وو.

د ملي پولیسو توقیف کې د ۳۳۵ توقیف ځایونو څخه، یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر یوازې د توقیف دوې قضیې ثبت کړي چیرې چې توقیفیان د پوښتنو ګرویرنو دمخه له خپلو حقونو څخه خبر شوي وو **(۰،۶ سلنه)**. د توقیف پر مهال په ځینو وختونو کې د خپلو حقونو څخه خبر شویو توقیفیانو اوسط حد اوس هم خورا ټیټ دي، (له ۳۳۵ څخه ۱۸)، یعنې ۵ سلنه. په استثنایي توګه، په بدخشان کې ملي پولیسو، د توقیف له ۱۸ څخه په ۱۰ مواردو کې، توقیفیان د توقیف په جریان کې د یو ځل لپاره د خپلو حقونو په اړه معلومات ترلاسه کړي.

د ملي امنیت په توقیف ځای کې، د توقیف د مواردو شمیر چې توقیفیان د پوښتنو ګرویرنو دمخه د خپلو حقونو څخه خبر شوي وو، په ورته ډول کم دي (له ۷۲۵ څخه په ۱۹ مواردو کې، **۲.۶ سلنه)**. د ټول هیواد په کچه، د توقیف په ۱۲.۹ مواردو کې (له ۷۲۵ څخه ۹۲)، توقیفیان د ملي امنیت په توقیف ځایونو کې د توقیف په وخت کې د خپلو حقونو څخه خبر شوي. په ولایتي کچه، د **پروان** ملي امنیت په توقیف ځای کې نږدې ۴۶ سلنه قضیو په درلودلو سره تر ټولو لوړه سلنه درلوده چیرې چې توقیفیان له خپلو حقونو څخه خبر شوي وو (له ۱۳ جملې څخه ۶)، وروسته **تخار** (له ۱۴ څخه ۵ مواردو کې، ۳۵.۷ سلنه) او بیا **سمنګان** (له ۲۹ څخه ۳۴ مواردو کې، ۳۴.۵ سلنه).

---

[42] د شکنجې د منعې کنوانسیون، ۲ ماده؛ د شکنجې ضد کمیټه، ۲مه عمومي تبصره، هماغه، ۸-۱۴ پاراګرافونه.
[43] د شکنجې ضد کمیټه، د افغانستان دویم دوره یي په اړه نهایي ملاحظه، هماغه، ۲۶ پاراګراف؛ د شکنجې ضد کمیټهو ۲مه عمومي تبصره، هماغه ۱۳ او ۱۴ پاراګرافونه.
[44] د بشري حقونو کمیټه، د ۹ مادې (د شخص آزادي او امنیت) په اړه ۳۵مه عمومي تبصره (۲۰۱۴)، ۵۸ پاراګراف؛ د هرډول توقیف یا بندي کیدو تر عنوان لاندې د ټولو وګړو د ساتنې لپاره د ملګرو ملتونو د اصولو مجموعه، (A/RES/43/279)(1988) ، ۱۳۰۱۴ اصول، د بندیانو د درملنې لپاره د ملګرو ملتونو معیاري حد اقل قواعد ( د نیلسون مانډیلا قواعد) (۲۰۱۵)،(A/RES/70/175)(، ۵۳-۵۵ قواعد؛ د آزادۍ څخه محروم شویو ژنکیو د خوندیتوب لپاره د ملګرو ملتونو قوانین (د بیجینګ قواعد) (۱۹۹۰) (A/RES/45/113)، ۲۴-۲۵ قواعد.
[45] د شکنجې ضد کمیټه، ۲مه عمومي تبصره، ۱۳ پاراګراف.
[46] پورتنۍ ۲۲ شمیره پای لیک وګورئ.

په ولایتي محبسونو کې، د توقیف له ۱۵ مواردو څخه په ۴ کې، توقیفیان د پوښتنو ګروېږنو څخه دمخه له خپلو حقونو څخه خبر شوي وو (**۶.۶ سلنه**) او د توقیف په بهیر کې له خپلو حقونو څخه په ۲۴ مواردو کې (۷.۴ سلنه) خبر شوي وو.

د ژئیکو د اصلاح او تربیت په مرکزونو کې، د توقیف په ۵۴ قضیو کې **هیڅ یو** توقیفی ژئکي د پوښتنو ګروېږنو څخه دمخه د خپلو حقونو څخه خبر شوي نه وو. د ژئیکو د اصلاح او تربیت په مرکزونو کې، له ۵۴ قضیو څخه په ۸ کې، توقیفي ژئکي د توقیف په جریان کې له خپلو حقونو څخه خبر شوي (۱۴.۸ سلنه).

یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر یادونه کوي کله چې توقیفیان، د ژئیکو په ګډون، په زندانونو یا د ژئیکو د اصلاح او تربیت مرکزونو ته لیږدول کیږي، د دوی د قضیو دوسیې د لوړې څارنوالۍ دفتر سره وي. په دې وخت کې، دا د څارنوالانو مسؤلیت دی چې مظنونین او متهمین د تحقیقاتو له پیل څخه دمخه د جزايي اجراآتو قانون د۷ مادې پراساس د خپلو حقونو څخه خبر کړي[47].

سربیره پردې، د یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د مرکه شویو اشخاصو لخوا د وړاندې شویو معلوماتو پراساس، څرګنده شوه چې د موظفینو لخوا د توقیف شویو د حقونو په اړه معلومات کافي ندي. دا ډول معلومات اکثرا د مظنونینو او متهمینو ټول حقونه تر پوښښ لاندې نه راولي کوم چې د جزايي اجراآتو قانون په ۸ مادې ذکر شوي دي او دا چې یاد کسانو ته پوره جزئیات نه ورکول کیږي چې څنګه د دې ډول حقونو څخه په اغیزمنه توګه کار واخلي. د مثال په توګه، د ازادۍ څخه محروم شوي اشخصو ته اکثرا د مدافع وکیل د ترلاسه کولو د حق په اړه ویل کیږي، مګر، د چپ پاتې کیدو حق (حق السکوت) په اړه ورته معلومات نه ورکول کیږي. حق کله چې دوی د مدافع وکیل درلودو حق په اړه معلومات ترلاسه کوي، ممکن دوی ته معلومات ور نه کړل شي چې څنګه مدافع وکیل ته د لاسرسي ولري، او څنګه مدافع وکیل د ځان لپاره وټاکي.

چوکاټ 5.1: د خپلو حقونو په اړه معلومات




## ۲.۵. مدافع وکیلانو ته لاسرسی

مدافع وکیل ته د لاسرسي حق په هر هغه چا د تطبیق وړ ده چې نیول شوی یا توقیف شوی دی. دا د شکنجې او ناوړه چلند او نورو بشري حقونو سرغړونو پروړاندې د پام وړ محافظت ګڼل کیږي کله چې اشخاص د قانون نافذ کونکو ادارو په توقیف کې وي. د مدني او سیاسي حقونو په نړیوال تړون کې، د مدافع وکیل څخه د مرستې حق په ځانګړې ډول په جزايي عدالت کې د لازمي عادلانه محاکمې تضمین په توګه رامنځته شوی[48]. د محاکمې دمخه توقیف په پام کې نیولو سره، د عادلانه محاکمې sحق ته اړتیا لیدل کیږي چې توقیف شوي اشخاص، د پولیس لخوا د ابتدايي پوښتنو ګروېږنو په شمول، ترڅو د جزايي عدلي تعقیب په ټولو پړاونو کې مدفع وکیل ته لاسرسی ومومي[49].

د افغانستان اساسي قانون هر شخص ته حق ورکړې چې د نیول کیدو پر مهال مدافع وکیل د ځان لپاره وټاکي (۳۱ ماده). که چیرې مظنون یا متهم بې وزله وي، حقوق مرستې مساعدین باید د هغه په رضایت سره ټاکل شي[50]. د جزايي اجراآتو قانون څارنوال مکلفوي ترڅو د تحقیق له پیل څخه مخکې له متهم څخه وغواړي مدافع وکیل له ځانه سره ولري (۱۵۲ ماده).

یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ملي پولیسو په توقیف کې د توقیفیانو خورا ټیټ شمیر مستند کړی چې تر پوښتنو ګروېږنو دمخه وکیل ترلاسه کړی (له ۳۳۵ څخه ۲ ، **۰،۶ سلنه**). حتی د توقیف ټول معیاد په پام کې نیولو سره، د ملي پولیسو توقیف ځایونو کې د توقیف په وخت کې یوازې د ۶ سلنه (۳۳۵ له جملې څخه ۲۱) یو مدافع وکیل ترلاسه کړی.

---

[47] د جزايي اجراآتو قانون (۲۰۱۴)، ۸مه ماده.

[48] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاقو (۱۴)(۳)(ب)؛ همدغه زار وګورئ، د نړیوالې جزايي محکمې لپاره د روم اساسنامه، (۶۷)(۱)(د)؛ د بشري حقونو جهاني اعلامیه، ۱۱ (۱).

[49] وګورئ – د بشري حقونو کمیټه، نهايي ملاحظات: ګرجستان (۲۰۰۷) (CCPR/C/79Add.74)، ۲۸ پاراګراف؛ د بشري حقونو کمیټه، د ۱۴مې مادې په اړه ۳۲مه عمومی تبصره : د محکمې او عادلانه محاکمې پروړاندې د برابرې حق .(CCPR/C/GC/32).

[50] د افغانستان جمهوري اسلامي دولت اساسي قانون (۲۰۰۴)، ۳۱مه ماده؛ د جزايي اجراآتو قانون (۲۰۱۴)، ۱۰مه ماده.

په ورته ډول، یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر مستند کړي چې د ملي امنیت په توقیف ځایونو کې هیڅ یوه توقیف د پوښتنو ګروېږنو دمخه مدافع وکیل نه دی ګمارلی (له ۷۲۵ څخه ۵، **۰،۷ سلنه**). کله چې د پوښتنو ګروېږنو څخه وروسته وخت پشمول، د توقیف ټوله موده په پام کې ونیول شي، د مرکه شویو کسانو سلنه چې د ملي امنیت ریاست کې د مدافع وکیل ترلاسه کولو ۱۱.۴ سلنه ده (له ۷۲۵ څخه ۸۳).

د ملي پولیسو په پرتله، د ملي امنیت په توقیف ځایونو کې مدافع وکیلانو ته د لاسرسي لوړه سلنه کیدی شي هم دې حقیقت پورې اړه ولري چې مظنونین د ملي امنیت په توقیف کې ډېر وخت پاتې وي، حتی وروسته له دې چې د قضیې دوسیه څارنوالۍ ته لیږل کیږي.

د توقیفیانو سلنه کوم چې مدافع وکیلانو ته لاسرسی درلود هغه مهال زیات شو چې هغوی ولایتي محبس یا د ژنکیو د اصلاح او تربیت مرکز ته ولیږدول شول. په ولایتي محبسونو کې، یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر مستند کړي چې د توقیف له ۱۵۵ مواردو څخه په ۱۰ کې، توقیفیان د پوښتنو ګروېږنو څخه دمخه یو مدافع وکیل ترلاسه کړی (**۶.۵ سلنه**). کله چې د توقیف ټوله موده، له محاکمې دمخه او وروسته موده تر پوښښ لاندې ونیول شي، یاد شمیر ۵۱.۶ سلنې ته لوړیږي (له ۱۵۵ څخه ۸۰). په ورته ډول د ژنکیو د اصلاح او تربیت په مرکزونو کې، پداسې حال کې چې د توقیف له ۵۴ څخه یوازې ۴ څخه مرکه شویو ژنکیو د پوښتنو ګروېږنو دمخه مدافع وکیل نیولی (**۷.۴ سلنه**) ، د توقیف له ۵۴ قضیو څخه په ۲۷ کې، هغوی د یادې مودې په اوږدو کې مدافع وکیل ترلاسه کړی وو (۵۰ سلنه).

احتمال لري چې مدافع وکیلانو ته د لاسرسي خورا ټیټ سلنه کې، په ځانګړي توګه له نیول کیدو وروسته په مقدماتي مرحله کې، مختلف عوامل ونډه ولري،. د مثال په توګه، په یو شمیر ولایتونو کې، یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د عدلیې له ریاست څخه واوریدل چې لدې امله چې د حقوقي مساعدینو شمیر ټیټ دی، دوی وخت نلري چې د کشفي ارګان توقیف ځایونو څخه لیدنه وکړي ترڅو کشفي ارګان لخوا د لومړیو مرکو ترسره کولو په مهال هلته شتون ولري[51]. یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر ته خبر ورکړل شو چې مدافع وکیلان لیوالتیا نلري تر څو د خپلو امنیتي اندیښنو له امله، د امنیت یا تروریزم پورې اړوند جرمونو د قضیو وکالت په غاړه واخلي. په ورته وخت کې، مدافع وکیلانو د یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر ته وویل چې یو شمیر ادارو ته لاسرسی په سیستماتیک ډول محدود دی، په ځانګړي توګه هغه ادارو ته چې د ملي امنیت ریاست تر کنټرول لاندې دي. (په بګرام کې ملی امنیت توقیف ځای په اړه هم، د پورتني برخې په ۴.۴ پاراګراف کې وګورئ.) یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر معلومات ترلاسه کړي چې دا محدودیت د کوویډ-۱۹ راتلو پرمهال، په ځانګړي توګه د ۲۰۲۰ کال د اپریل او جون ترمنځ موده کې، لا نور هم سخت شوی.

چوکاټ 5.2: وکیلانو ته لاسرسی




[51] دغه اصلاح به افغانستان کې د ملی پولیسو او ملی امنیت ریاست دفترونو لپاره کارول کیږي، کوم چې د جرمونو د کشف وظیفه ترسره کوي او په مقابل کې، لویه څارنوالی د تحقیق وظیفه مخ ته وړي. د جزايي اجراآتو قانون (۲۰۱۴) ۸۱مه ماده وګورئ.

## ۳.۵  له کورنۍ سره اړیکه

د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق بیان کوي چې کورنۍ ، د ټولنې د طبیعي او بنسټیزې ډلې په توګه، د ټولنې او دولت لخوا د ساتنې حق لري[52]. د آزادۍ څخه محروم شوي اشخاص حق لري چې کورنې سره اړیکه ونیسي او د کورنۍ لخوا د دوی سره ولیدل شي[53]. دا حق باید "د ډېرو ورځو لپاره" له پامه ونه غورځول شي[54].

د جزايي اجراآتو قانون تصریح کوي چې د نیوونکې مرجع لخوا د نیلو په وخت کې د هغه کورنۍ یا خپلوانو ته خبر ورکړل شي (۴ فقره، ۷ ماده). د آزادۍ د سلب مرکزونو د مدیریت قانون تصریح کوي چې توقیفیان او محبوسین حق لري چې له خپلو کورنیو سره اړیکه ونیسي (۱ فقره، ۱۰ ماده).

د ملي پولیسو توقیف کې د توقیف نږدې دربیمه برخه کې چې یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر مستند کړي، توقیفیان کولی شي له خپلو کورنیو سره اړیکه ونیسي (له ۳۳۵ څخه ۹۱، **۲۷.۲ سلنه**).

د توقیف د قضیو سلنه چې پکې توقیفیان له خپلو کورنیو سره تماس لري د ملي امنیت په توقیف ځای کې ټیټ وو (له ۷۲۵ څخه ۱۴۳، **۱۹.۷ سلنه**). یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر په ډېری توقیف ځایونو یا ولایاتو کې په ځانګړې توګه ټیټه سلنه مستند کړې. د مثال په توګه، **په پروان کې د ملی امنیت د ۲۴۱ ریاست په توقیف ځای کې**، د توقیف هیڅ ډول مورد شتون نه درلود چیرې چې توقیف ته اجازه ورکړل شوې وه چې له خپلې کورنۍ سره اړیکه ونیسي (له ۳۳ څخه ۰). په هرات، کابل، کندهار او ننګرهار ولایتونو کې د ملي امنیت په توقیف ځایونو کې ارقام هم خورا ټیټ وو. (د ولایتی احصایو د جزئیاتو لپاره، د ولایتي موندنو تقسیم بندي په اړه دوهمه ضمیمه وګورئ).

هغه توقیفیان چې له کورنیو سره تماس نیولې معمولا د هغو تلیفونونو له لارې یې دا کار ترسره کړې چې د توقیف ځایونو چارواکو یا د کورنۍ لیدنې لخوا هغوی ته چمتو شوې. یوه مهمه ننګونه دا ده چې اکثراً د دوی کورنۍ نه پوهیږي چې د دوی د کورنۍ غړي چیرته ساتل کیږي. یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر ثبت کړې چې یوازې **۳۸.۵** سلنه مورد د ملي پولیسو په توقیف کې او **۲۹.۵** د ملي امنیت د توقیف په قضیو کې توقیفیانو ویلې چې کورنۍ یې د دوی د ځای په هکله خبر وه. کورنیو ته د دوی د توقیف شوي کورنۍ غړو د ځای په اړه د معلوماتو نشتوالی ممکن په ځینو مواردو کې د اجباري لادرکه کیدولو سبب شي. (د انفرادي او تجرید شوي توقیف اړه لاندې دربیم بکس وګورئ).

ګکله چې اشخاص زندانونو یا د ژنکیو د اصلاح او تربیت مرکزونو ته ولیږدول شي، له کورنیو سره د اړیکو سلنه لوړیږي. په ولایتي محبسونو کې، د توقیف له ۱۵۵ واردو څخه په ۱۰۵ کې، توقیفیان وتوانیدل چې د توقیف پر مهال له خپلو کورنیو سره اړیکه ونیسي (۶۷.۷سلنه). د ژنکیو د اصلاح او تربیت په مرکزونو کې، د توقیف له ۵۴ قضیو څخه په ۳۱ کې، هغو ژنکیو چې مرکه ورسره شوې د دې توان درلود چې له خپلو کورنیو سره اړیکه ونیسي (۵۷.۴ سلنه).

چوکاټ 5.3: د کورنۍ سره اړیکه




یو بل لامل چې د اشخاصو او ژنکیو سره د دوی له کورنیو سره د اړیکې نیولو څخه مخنیوی کوي د تلیفونونو نشتون دی. عموماً، په توقیف ځایونو کې د ګرځنده تلیفونونو کارول منع دي[55]. خو، په ولایتي محبوسونو کې د عامه تلیفون سیستم څخه پرته، د ملي امنیت او ملي پولیسو توقیف ځایونو او د ژنکیو د اصلاح او تربیت په مرکزونو تلیفونونه شتون نلري چې د اشخاصو یا ژنکیو لخوا وکارول شي ترڅو له خپلو کورنیو سره اړیکې ونیسي. په داسې ځایونو کې، اشخاص یا ژنکې ځینې وختونه د کارمندانو، مدافع وکیلانو یا څارنوالانو شخصي تلیفونونه غواړي چې له خپلو کورنیو سره اړیکه ونیسي.

---

[52] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۲۳مه او ۱۷مه ماده.
[53] د توقیف هرې بڼې تر عنوان لاندې د ټولو وګړو د ساتنې لپاره د اصولو مجموعه، ۱۵ اصل؛ د نیلسون منډیلا قواعد، ۴۱ (۵)، ۵۴، ۵۸، ۶۱ او ۱۱۹ قاعدې.
[54] د توقیف هرې بڼې تر عنوان لاندې د ټولو وګړو د ساتنې لپاره د اصولو مجموعه، ۱۵ اصل
[55] د آزادۍ د سلب مرکزونو د تنظیم او مدیریت قانون (۲۰۲۰)، ۲۰مه ماده.

### ۳ بکس: انفرادي او تجرید شوي توقیف

انفرادي توقیف د یو له آزادۍ محروم شخص فزیکي او ټولنیز انزوا ته وایي چې یاد شخص د ۲۲ یا ډېرو ساعتونو لپاره په یو کسیزه توقیف خونه (سلول) کې اچول کیږي[56]. پدې کې معمولاً د نورو توقیفیانو یا محبوسینو سره د اړیکې بشپړ محرومیت، او د توقیف ځای کارمندانو سره محدود تماس شامل وي - د مثال په توګه، حتی که چیرې هغه شخص د تمرین کولو لپاره د لنډې مودې لپاره د انفرادي توقیف (سلول) څخه بهر شي. پداسې حال کې چې انفرادي توقیف ذاتاً د نړیوال بشري حقونو قانون څخه سرغړونه نه ده، دغه چاره یوازې په استثنایي حالاتو کې او د ډېر محدود وخت لپاره جواز لري. په نورو حالاتو کې، د دې چارې کارول ممکن شکنجه او ناوړه چلند وګڼل شي[57]. سربیره پردې، د محاکمې څخه دمخه توقیف کې د اشخاصو لپاره انفرادي توقیف باید و نه کارول شي[58].

تجریدي توقیف هغه وخت پیښیږي کله چې له آزادۍ څخه محروم شخص ته اجازه ور نه کړل شي چې د بهرنۍ نړۍ سره هیڅ ډول اړیکې و نه نیسي[59]. که چیرې انفرادي د څو ورځو څخه واوړي بیا دغه چاره د نړیوال قانون څخه سرغړونه ګڼل کیږي[60]. کله چې کورنۍ د توقیف ځای په اړه نه خبریږي او د آزادۍ څخه محروم شخص د موقعیت په اړه د هغه کورنۍ بې خبره پاتې شي، دغه چاره ممکن د اجباري لادرکه کیدو په توګه هم وګڼل شي[61]. اوږد مهاله غیرقانوني توقیف هم په ځینو مواردو کې د شکنجې او ناوړه چلند یوه بڼه ګڼل کیږي[62].

یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د توقیف ۸۸ قضیې ثبت کړي چې پکې توقیفیانو په موثقه او کره ډول ویلي چې دوی په انفرادي توقیف کې ساتل شوي وو: ۸۱ مورده د ملي امنیت په توقیف ځای کې او ۷ مورده د ملي پولیسو په توقیف ځای کې. د توقیف له دې ۸۸ قضیو څخه په ۴۰ قضیو کې، انفرادي توقیف د مرکه شویو اشخاصو په لومړي توقیف ځای کې ترسره شوی. دغه چاره پدې دلالت کوي چې د نیونې وروسته د توقیف په لومړې مرحله کې ډېری احتمال لري چې دغه کړنه ترسره شي.

د ملي امنیت په توقیف ځای کې، یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د توقیف کولو ۴۰ قضیې ثبت کړي چې پکې توقیفیان پرته له دې چې له خپلو کورنیو سره اړیکه ونیسي، د وکیل سره اړیکه ونیسي یا بهرنیو ادارو (لکه د سره صلیب نړیواله کمیټې)سره لیدنې ترسره کړي، په انفرادي توقیف کې اچول شوي دي. د دغو ۴۰ مواردو څخه ۲۰ قضیې په پروان کې ملي امنیت ۲۴۱ ریاست لخوا توقیف پورې اړوند دي؛ ۵ مورده په کندهار کې د ملي امنیت توقیف پورې اړوند دي؛ ۳ مورده په خوست کې د ملي امنیت پورې اړوند دي؛ ۳ مورده په هلمند کې د ملي امنیت توقیف پورې اړوند دي، پداسې حال کې چې پاتې ۹ قضیې په مختلفو ولایتونو کې د ملي امنیت توقیف پورې اړوند دي.

---

[56] د نیلسن منډیلا قواعد، ۴۴مه قاعده.

[57] د بشري حقونو کمیټه، ۴۵۸/۱۹۹۱ ګڼه مکتوب، موکانګ د کامیرون په مقابل کې (۱۹۹۴)، ۳.۹ او ۴.۹ پاراګراف؛ د شکنجې او نور ظالمانه، غیر انساني یا له سپکاوي څخه ډک چلند یا مجازاتو په اړه د بشري حقونو د شورا د ځانګړي راپور ورکونکي لنډمهاله راپور(۲۰۱۱) (A/66/268)، ۷۴ پاراګراف.

[58] د شکنجې ضد کمیټه، نهایي ملاحظات: ناروې (۲۰۱۲) ( CAT/C/NOR/CO/6-7)، ۱۱ پاراګراف.

[59] د ځانګړي راپور ورکونکي، ښاغلي پي کوجمنز، راپور چې د بشري حقونو د کمیسیون د کمیټې 33/1985 (1986) ګڼې پریکړه لیک په اساس تعیین شوي دي، (E/CN.41/1986/15)، ۱۰۹ پاراګراف.

[60] پورتنې منبع، ۱۵۱ پاراګراف؛ د توقیف هرې بڼې تر عنوان لاندې د ټولو وګړو د ساتنې لپاره د اصولو مجموعه، ۱۵ اصل

[61] د اجباري یا غیر داوطلبانه لادرکه کیدو په اړه د کاري ډلې راپور(۲۰۱۸)، (A/HRC/39/46) ، ۱۴۳ پاراګراف ("د اجباري لادرکه کیدو د پیښیدلو لپاره د وخت محدودیت شتون نلري، که څه هم څومره لنډ وي، او د آزادۍ څخه د بې برخه شوي هر فرد د توقیف و د هغه د توقیف ځای په اړه باید دقیق د هغه د کورنۍ غړو ته سمدستي ورکړل شي".)

[62] د بشري حقونو کمیټه، ۴۴۰/۱۹۹۰ ګڼه مکتوب، المیګریسی د لیبیا عربي جموریت په مقابل کې (۱۹۹۴)، ۴.۵ پاراګراف؛ ۱۴۷/۱۹۸۳ ګڼه مکتوب، آرزودا د اورګوای په مقابل کې (۱۹۸۵)، ۱۴ پاراګراف؛ ۱۴۶۹/۲۰۰۶ ګڼه مکتوب، شرما د نیپال په مقابل کې (۲۰۰۸)، ۲.۷ پاراګراف، ۱۱۹۶/۲۰۰۳ ګڼه مکتوب، بوچیرف د اجزایر په مقابل کې (۲۰۰۶)، ، ۴۴۰/۱۹۹۰ ګڼه مکتوب، المیګریسی د لیبیا عربي جموریت په مقابل کې (۱۹۹۴)، ۴.۵ پاراګراف.

## ۴.۵. په وخت سره طبي معاینه

د توقیف ځای ته د رارسیدو پرمهال طبي معاینه یوه له هغه محافظتونو څخه ده چې د شکنجې او ناوړه چلند مخنیوی کوي. د نړیوالو معیارونو سره سم، د آزادۍ څخه محروم شویو اشخاصو ته باید سمدلاسه مناسبه طبي معاینه ورکړل شي کله چې دوی د توقیف ځای ته داخله شي[63]. دا ډول معاینه د موجوده فزیکي یا رواني ناروغۍ پېژندلو لپاره اړینه ده. همدغه راز دغه چاره د احتمالي شکنجې او ناوړه چلند پېژندلو لپاره اړینه ده، کوم چې ممکن هغه مهال پیښ شوی وي چې شخص لومړني توقیف ځای ته داخل شي. د ورته طبي معاینې اسناد باید وساتل شي او د توقیف ځای به محضر کې هم درج شي[64]. د آزادۍ د سلب د مرکزونو مدیریت قانون تصریح کوي چې په توقیف ځای کې د ننوتلو پرمهال، د طبي معایناتو د معلوماتو پشمول، باید د هر شخص لپاره یوه دوسیه رامنځته شي (۱۹ ماده).

یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د توقیف د قضیو خورا ټیټه سلنه مستنده کړې چیرې چې په توقیف ځای کې د پوښتنو ګرویږنو دمخه، د توقیفی د بدني معاینې په ګډون، طبي معاینات ترسره کړې وي.

د ملي پولیسو توقیف ځای کې، یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر یوازې د توقیف یوه قضیه ثبت کړې په کوم کې چې توقیفي د پوښتنو ګرویږنو دمخه په بدني معایناتو کې برخه اخیستې وه (له ۳۳۵ قضیو څخه ۱ قضیه، **۰،۳ سلنه**).

د ملي امنیت په توقیف ځای کې، توقیفیان د توقیف په وخت کې یوازې په **۸.۸ سلنه** (د ۷۲۵ موردو څخه ۶۴ مورده) د مواردو کې د پوښتنو ګرویږنو دمخه بدنی معاینات ترسره کړې. داسې بریښیدله چې په **کابل او پروان کې د ملي امنیت ۲۴۱ ریاست** پدې برخه کې ترټولو ښه کړنه درلوده، چیرې چې توقیفیان راپور ورکړ چې په ترتیب سره په ۳۵ او ۳۰ سلنه د مواردو کې داسې طبي معاینات ترسره کړې.

داسې بریښي چې په توقیف ځایونو کې د طبي دایمي کارمندانو محدود شتون ددې سبب شوې چې په وخت سره د طبي معاینې ترسره کول ورته ستونزمن وي. په عمومي ډول، یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر مشاهده کړې چې د ملي امنیت نږدې دریيمه برخه توقیف ځایونه خپل دایمي طبي کارمندان لري، پداسې حال کې چې د ملي پولیسو یواځې لسمه برخه توقیف ځایونه دایمي طبي کارمندان لري. یاد توقیف ځایونه چې دایمي طبي کارمندانو نلري اکثرا د خپل د مرکزي دفتر څخه د طبي کارمندانو په ملاتړ تکیه کوي، چې د ارتیا په وخت کیدای شي د لاسرسي وړ نه وي.

په ولایتي محبسونو او د ژێکیو د اصلاح او تربیت په مرکزونو کې، د پوښتنو ګرویږنو دمخه په نادرو حالتونو کې طبي معاینات په وخت هم ترسره کیږي. ، د بشري حقونو څانګې (HRS) په ولایتي محبسونو کې د توقیف ۴ قضیې (له ۱۵۵ قضیو څخه) ثبت کړې چیرې چې توقیفیان د پوښتنو ګرویږنو دمخه طبي معاینات تر لاسه کړي (**۲.۶ سلنه**). د ژێکیو د اصلاح او تربیت په مرکزونو کې، دغه شمیره له ۵۴ قضیو څخه په ۳ قضیو کې وې (**۵.۶ سلنه**).

چوکاټ 5.4: د تحقیقاتو دمخه طبي معاینه




---

[63] د توقیف یا حبس هرې بڼې تر عنوان لاندې د ټولو وګړو د ساتنې لپاره د اصولو مجموعه، ۲۴ اصل؛ د شکنجې ضد کمیټه، نهایي ملاحظات: سویزرلاند (۱۹۹۷)( A/53/44)، ۹۶ پاراګراف.

[64] د توقیف یا حبس هرې بڼې تر عنوان لاندې د ټولو وګړو د ساتنې لپاره د اصولو مجموعه، ۲۶ اصل؛ د نیلسن منډیلا قواعد، ۲۶مه قاعده.

## ۵.۵. د اسنادو په محتویاتو د پوهاوي څخه پرته د هغو لاسلیک کیدل

د نړیوالو معیارونو سره سم، هر شخص حق لري چې د ځان په وړاندې په شاهدي ورکولو یا په جرم باندې د اقرار کولو ته مجبور نه شي[65]. دا حق د متهم په حق السکوت باندې هم د تطبیق وړ دې[66]. د متهم له چوپتیا یا سکوت څخه هیڅ ډول منفي استنباط باید وا نخیستل شي[67].

د جزایي اجراآتو قانون مظنون یا متهم ته حق ورکوي چې غلی پاتې شي یا له هر ډول نظر ورکولو څخه ډډه وکړي (۷ فقره، ۷ ماده او ۱ فقره، ۱۵۰ ماده) د جزایي اجراآتو قانون تصریح کوي چې د متهم سکوت د هغه د بیان په حکم کې ندی (۲ فقره، ۱۵۰ ماده). د جزایي اجراآتو قانون دا هم تصریح کوي چې هر هغه بیان چې د مظنون څخه اخیستل شوی وی باید د هغه لاسلیک سره په لیکلی بنه ثبت شی، خو دا هم تصریح کوي چې مظنون ممکن د داسی بیان له لاسلیک کولو یا ګوتو د نښان ایښودلو څخه ډډه وکړي (۳ فقر ۸۵ ماده). د یادونې وړ ده چې د جزایي اجراآتو قانون تصریح کوي چې هغه بیان چې د شکنجې، زورزیاتي، ګواښونو او ډارونې له لارې اخیستل شوې وي، د استناد وړ ندي (۲۲ ماده).

یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د توقیف داسې قضیې مستندې کړې چیرې چې توقیفیان د پوښتنو ګرویږنو په پای کې د اسنادو په پای کې لاسلیک کولو یا د ګوتو د نښان ایښودولو غوښتنه کوي پرته لدې چې هغوي یاد اسناد ولولي یا ورته د محتویاتو په اړه توضیح ورکړل شي. دا ډول چاره جدي اندیښنې راپورته کوي. د محتویاتو د لوستلو یا په اړه یې د توضیحاتو ترلاسه کولو پرته، دوی نشي کولی ډاډ ترلاسه کړي چې ایا د دوی بیانونه په مناسب ډول په اسنادو کې منعکس شوي او که نه. د داسې فرصت نشتوالی کیدای شي پخپله د ځان په وړاندې د نه شاهدي ورکولو حق باندې هم اغیزه ولري، چیرې چې سند د دوی د بیان د ثبت په توګه ګڼل کیږي. سربیره پردې، که چیرې یو شخص د پوښتنو ګرویږنو پر مهال د چپ پاتې کیدو حق څخه ګټه واخلي، نو د دې شخص لپاره هیڅ وسیله شتون نلري چې پوه شي چې څنګه دا د سند لوستلو یا د محتویاتو په اړه توضیحاتو ترلاسه کولو پرته په اسنادو کې منعکس شوی.

یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د توقیف د قضیو لوړه سلنه مستندې کړې چیرې چې د توقیفانو څخه غوښتل شوي وو چې پر محتویاتو د پوهیدلو پرته یو سند لاسلیک کړي یا د ګوتې نښان پرې ولګوي. د توقیف د ورته قضیو **۴۲.۹ سلنه** د ملي پولیسو لپاره وه (له ۳۳۵ قضیو څخه ۱۴۴ موردې) او **۴۹ سلنه** د ملي امنیت لپاره (له ۷۲۵ قضیو څخه ۳۵۶) وه. داسې بریښي چې دا چاره د قانون پلي کونکو مامورینو ترمنځ یو عام دود دی. په ورته وخت کې، د عامو خلکو تر منځ د لوړې بې سوادۍ کچه هم پدې معنی ده چې چارواکي باید اضافي هڅه وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې یو شخص پوه شي د سند لاسلیک کول یا د ګوتې نښې ایښیدلو څه معنی لري. دا حالت د پوښتنو ګرویږنو پرمهال د مدالع وکیل د شتون اهمیت هم روښانه کوي.

د یادونې وړ ده چې په زندانونو او د ژېکیو د اصلاح و تربیت په مرکزونو کې د توقیف د مواردو سلنه راټیټه شوی وه چیرې چې د توقیفانو څخه غوښتل شوي و چې پرته لدې چې به محتویاتو باندې پوهه شي، اسناد لاسلیک کړي. په زندانونو کې، د توقیف په **۷ سلنه** مواردو کې (له ۱۵۵ څخه ۱۱)، له توقیفیانو څخه غوښتل شوي وو چې پرته د محتویاتو له پوهیدو څخه یو سند لاسلیک کړي. د ژېکیو د اصلاح او تربیت په مرکزونو کې، یاد شمیر ۲۰.۴ سلنه (له ۵۴ قضیو څخه ۱۱) وه چې د محبوسینو په توپیر لوړ و، مګر لاهم د توقیف ځایونو په پرتله ټیټ دی. په محبسونو او د ژېکیو د اصلاح و تربیت په مرکزونو کې ټیټه سلنه ممکن دې حقیقت ته اشاره وکړي چې کله چې اشخاص یا ژېکي یادو ادارو ته لیږدول شوي، د دوی بیانونه چې د دوی لاسلیکونو ته اړتیا لري دمخه اخیستل شوي وو او د دغه کار ترسره کولو (لاسلیک) لپاره لږ اړتیا وه. دا ګمان هم کیدای شي چې خارنوالان د هغوی د روزنې او شالید په پام کې نیولو سره ممکن لازم وګڼي چې اړونده اشخاصو ته د لاسلیک شوي سندونو محتویات توضیح کړي. لکه څنګه چې (په پورتنۍ ۵.۲ برخه کې ) په ګوته شوي، یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د توقیف ځایونو په پرتله په محبوسونو او د ژېکیو د اصلاح و تربیت په مرکزونو کې د مدافع وکیلانو د ګمارلو لوړه سلنه ثبت کړې، او داسې بریښي چې د وکیل شتون ممکن د پیښو شمیره کمه کړي وي چیرې چې له یوه شخص څخه غوښتنه شوې وي چې سند لاسلیک کړي پرته لدې چې د سند په محتویات باندې پوهیدلې نه وي.

---

[65] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۱۴ (۳) (ز)؛ د نړیوالې جزایي محکمې د روم اساسنامه، ۵۵ (۱)(الف) ماده.
[66] د نړیوالې جزایي محکمې د روم اساسنامه، ۵۵ (۲)(ب) ماده.
[67] د شکنجې ضد کمیټه، نهايي ملاحظات: سویزرلاند (۲۰۰۱)(CCPR/CO/73/UK )، ۱۷ پاراګراف؛ همدغه راز، د نړیوالې جزایي محکمې د روم اساسنامې، ۶۷ ماده وګورئ.

چوکاټ 5.5: پرته د محتویاتو له پوهیدلو، اسناد پې لاسلیک کړي



# ۶. څارنه، تفتیش او حساب ورکونه

د توقیف ځایونو تفتیش او لیدنې لپاره بې پرې او خپلواک میکانیزمونه د شکنجې او ناوړه چلند مخنیوي لپاره مهم رول لوبوي. په ورته ډول، له آزادۍ څخه محروم اشخاص ته د اقداماتو شتون چې دوی ته اجازه ورکوي چې خپل شکایتونه په سم لاسي او بې طرفه توګه بررسي کړي د شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوي لپاره هم خورا مهم ګڼل کیږي[68]. په دواړو یادو برخو کې، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسون، او همدارنګه د شکنجې ضد کمیسیون مهم رول لوبوي. افغانستان مکلف دی چې د شکنجې د منعې کنوانسیون په اختیاري پروتوکول کې د یو غړي په توګه، د مخنیوي ملي میکانیز رامنځته کړي چې دنده ولري ترڅو د نورو چارو ترڅنګ د توقیف ځایونو څخه په بې پرې او خپلواکه توګه لیدنه او څارنه وکړي. د ۲۰۲۰ تر پای پورې، د داسې یوې اداري رامنځته کولو په اړه بحث لاهم د ادارو ترمنځ روان و.

## ۶.۱. د داخلي میکانیزمونو نقش

یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ملي پولیسو او ملي امنیت ریاستونو کې د بشري حقونو اړوندو ریاستونو د هڅو څخه چې د توقیف ځارنیز لیدنو له لارې له آزادۍ څخه محروم شویو اشخاصو پر واړاندې چلند ښه کولو لپاره ترسره کوي، هرکلی کوي.

### د کورنیو چارو وزارت د بشري حقونو افسران

د کورنیو چارو وزارت د جنډر ، ژنکیو حقونو او بشري حقونو ریاست ته واک ورکړل شوی چې په توقیف ځایونو کې څارنه وکړي، ترڅو د بشري حقونو سرغړونې تورونه وڅیړي (د نورو اتهامونو ترڅنګ، د آزادۍ څخه محروم شویو اشخاصو د شکنجې او ناوړه چلند تورونه)، او د عدلي تعقیب لپاره قضیې اړوندو مراجعو ته راجع کړي. په ولایتي کچه، د دې څارنې او څیړنې فعالیت د کورنیو چارو وزارت د بشري حقونو د افسرانو لخوا پرمخ وړل کیږي. د ملي امنیت د بشری حقونو د افسرانو برخلاف (لاندې وګورئ) د کورنیو چارو وزارت د بشري حقونو افسران د ولایت امنیه قومندان لخوا ګمارل کیږي او هغه یاد افسران د خپلو اجراآتو راپور ورکوي. د راپورونو سره سم، دا د کورنیو چارو وزارت د بشري حقونو افسرانو لپاره ننګونه منځته راوړي چې د ولایت په کچه ، د توقیف ځایونو پشمول، د هرډول سرغړونو راپور د ولایت امنیه قومندان ته ورکړي

د ۲۰۱۹کال د جنوري له ۱ څخه د مارچ تر ۳۱ پورې، یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر ثبت کړي چې په توقیف ځایونو کې یوازې ۳ سلنه قضیې (د ۳۳۵ څخه په ۱۰ موردو کې) ، د کورنیو چارو وزارت د بشري حقونو افسر د ملي پولیسو په توقیف ځایونو کې مرکه شویو څخه لیدنه کړې.

د ملي پولیسو لخوا د توقیف د ۹۱ قضیو څخه چې په اړه باوري او کره ادعا شوې شکنجه او ناوړه چلند شوي، یوازې په ۳ قضیو کې توقیفیانو د توقیف کارمندانو او تحقیق کونکو ته راپور ورکړی او په یادو مواردو کې هیڅ یو د کورنیو چارو وزارت بشري حقونو مامورینو لیدنه نده کړې

باوجود ددې چې د کورنیو چارو وزارت د بشري حقونو افسران د توقیف د څارنې ترسره کولو واک لري، خو، هغوی د دې مسؤلیت په ترسره کولو کې فعال نه ښکاري.

چوکاټ 6.1: د کورنیو چارو وزارت د بشري حقونو افسرانو سره ولیدل




[68] د شکنجې ضد کمیټه، ۲مه عمومي تبصره، هماغه، ۱۴.۸ پاراګرافونه.

### د ملي امنيت د بشري حقونو افسران

دملي امنيت رياست د جنډر او بشرى حقونو رياست (۱۳ رياست) د بشرى حقونو سرغړونې د پېژندلو داخلي مسؤليت لري او دملي امنيت په توقيف ځايونو کې د توقيفيانو شکايتونو ته رسيدګي کوي. د ملي امنيت د بشرى حقونو افسران په دايمي توګه په ټول هيواد کې د ملي امنيت نږدې ټولو دفترونو کې شتون لري. د توقيف شوي اشخاصو سره د مرکو ترسره کولو او د شکنجې او ناوړه چلند تورونو د څېړنې په ګډون، ياد افسران د سيستماتيکې څارنې مسوليت په غاړه لري. دوی په مستقيمه توګه د ملي امنيت عمومي رييس ته راپور ورکوي، نه د ولايت ملي امنيت رئيسانو ته. په تيوري کې، دا چاره تر يوې کچې دوی ته د خپلواکۍ اجازه ورکوي، سره له دې چې حقيقت دا دی چې دوی د ملي امنيت عمومي رئيس د قومندې په چوکاټ کې پاتې دي، کوم چې ممکن د ګټو د تنازع سبب وګرځي.

د ۲۰۱۹ کال د جنور له ۱ او د مارچ ۳۱ ترمنځ، يوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر ثبت کړي چې په توقيف کې په ۲۹.۷ سلنه کې (له ۷۲۵ څخه په ۲۱۶ مواردو کې)، د ملي امنيت د بشري حقونو يوه افسر د ملي امنيت په توقيف کې له مرکه شوېو اشخاص څخه ليدنه کړې. يوناما/ د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر د توقيف ۱۶ قضيې مستندې کړي دي چېرته چې توقيفيانو شکايت کړی چې دوی د ملي امنيت په توقيف ځای کې د شکنجې او ناوړه چلند سره مخ شوي دي. د توقيف په ۱۳مواردو کې، د ملي امنيت د بشرى حقونو مامورينو ته دا ډول شکايت شوی (په ۲ مواردو کې، طبي پرسونل ته دا ډول شکايت شوی او په ۱ مورد کې توقيفي توضيح نه کړې چې چا ته يې شکايت کړی دی). دا د ملي امنيت د بشري حقونو د افسرانو د پام وړ نقش په ګوته کوي، ځوک چې د آزادۍ څخه محروم شويو افرادو لپاره د يو رابط په توګه عمل کوي ترڅو توقيفيان دغه ډول شکايتونو هغوی ته مطرح کړي. په خواشينۍ سره، ۱۳ مرکه شويو اشخاصو چا چې د ناوړه چلند او شکنجې په اړه شکايت کړی، د چارواکو لخوا هيڅ ځواب نه دی ترلاسه کړی .

چوکاټ 6.2: د ملي امنيت د بشري حقونو افسرانو سره وليدل




يوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر د ملي امنيت د بشرى حقونو د افسرانو لخوا د توقيف څارنې فعال فعاليت څخه هرکلى کوي. په ورته وخت کې، يوناما/ د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر د ملي امنيت د بشري حقونو له افسرانو څخه غوښتنه کوي چې د شکنجې او ناوړه چلند هر ډول شکايتونه وڅېړي او هغو کسانو ته د خپلو اجراآتو په اړه معلومات وړاندې کړي چې شکايتونه وړاندې کوي.

## ۲.۶. د لويې څارنوالۍ په چوکاټ کې د شکنجې ضد کميټې نقش او د شکنجې د قضيو څېړنه او عدلى تعقيب

د لويې څارنوالۍ په چوکاټ کې د شکنجې ضد کميټه واک لري چې د شکنجې ضد قانون پلې کړي او د شکنجې قضيې وڅيړي چې د ولايتي څارنوالۍ لخوا ورته راجع کيږي. ياده کميټه د ادعا شوي شکنجې د نوي قضيو معلومات توحيد کوي او د شکنجې احتمالي تورونو لپاره تيرې قضيې د بياکتنې لاندې نيسي. ياده کميټه د فرعي کميټو له لارې چې د ولايت په کچه رامنځته شوي، په ولايتونو کې د څارنوالانو لخوا د شکنجې تحقيق او تعقيب شوي قضيې، تر څارنې لاندې نيسي. کميټه په ۳۲ ولايتونو کې د ولايت په کچه فرعي کميټې نه لري. هره فرعي کميټه د ولايتي استيناف څارنوالۍ د رئيس لخوا رهبري کيږي او پکې د داخلي او بهرني امنيت پر وړاندې د جرمونو پر ضد څارنوالان، نظامي څارنوالان او د تفتيش/ ارزونې څارنوالان شامل دي.

د شکنجې ضد کميټې د معلوماتو پر بنسټ، د ۲۰۱۹ کال د جنوري ۱ او د اکتوبر ۲۱ ترمنځ، ۱۸ قضيې د جزاکود ۴۵۰ مادې سره سم، عدلي تعقيب او محاکمه شوي (د شکنجې جرم). په پنځو قضيو کې، ادعا شوي مرتکبين به جزا محکوم شوي. په دريو قضيو کې، ادعا شوي عاملين برائت شوي دي. د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر تر ۲۱ نيټې پورې، پنځه قضيې تر قضايي تعقيب لاندې وی؛ دوه قضيې د صورت دعوا په مرحله کې وي؛ او درې قضيې په څارنوالۍ کې تر دوران لاندې وي.

يوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر د لويې څارنوالۍ په چوکاټ کې د شکنجې ضد کميټې لخوا د شکنجې او ناوړه چلند تورونو تحقيق او عدلي تعقيب په موخه د هڅو څخه هرکلی کوي.

### ۳.۶. نمونوي قضيې

يوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر د تورونو د جدي والي له امله په ځانګړي ډول د شکنجې او ناوړه چلند د قضيو تحقيق او عدلي تعقيب څارلې دي. دوه هغه يې لاندې وړاندې شوي.

## د غزني ولايت، د ۲۰۱۹ کال مۍ میاشت

د ۲۰۱۹ کال د مۍ میاشت په ۲۰مه نیټه کې، ښاغلي حاجی صدیق الله د بسم الله زوی، ۴۳ کلن هټۍ وال، د غزنی د ملي پولیسو قوماندانۍ څخه لیدنه وکړه کله چې د غزني د ولایت د ملي پولیسو مرستیال مشر لخوا غوښتنه وشوه څوک چې د ملي پولیسو د تروریزم سره د مبارزې مشر هم و. ښاغلي حاجی صدیق الله د خپل ورور سره د تلیفون له لارې خبرې وکړې کله چې هغه د ماسپښین شاوخوا ۱:۳۰ بجې د ملي پولیسو مرکز ته روان و. ماښام کله چې هغه بیا د تلیفون له لارې خبرې وکړې، ښاغلي حاجی صدیق الله خپل ورور ته وویل چې هغه اوس هم د ملي پولیسو د قومندانۍ په قرارګاه کې دی. کله چې ناوخته ماښام د ښاغلي حاجی صدیق الله ورور هغه ته بیا تلیفون وکړ، خو تلیفون يې بند شوی و. د ۲۰۱۹ د مارچ په ۲۱، د ښاغلي حاجی صدیق الله کورنۍ د هغه مړی په سیمه ایز روغتون کې وموند، وروسته له هغه چې هغوی ته د تلیفون وویل شو چې هغه ناروغه دی او په روغتون کې دی. د۲۰۱۹ کال د مۍ په پای کې، د غزني ولایت د ملي پولیسو د امنیه قومندان معاون د ښاغلي حاجي صدیق الله د وژنې په تړاو ونیول شو او د راپورونو سره سم د ملي پولیسو د تروریزم پروړاندې د مبارزې ریاست په غوښتنه کابل ته واستول شو. د ۲۰۱۹ کا په اګست کې، د غزني د ملي پولیسو د قومندان معاون غزني ته راستون شو او خپلې د ملي پولیسو دندې يې بیا پیل کړې.

د ۲۰۱۹ کال په اکتوبر کې، د غزني د ملي پولیسو او د تروریزم سره د مبارزې مرستیال د نظامي محکمې لخوا د شکنجې په جرم (د جزا قانون ۴۵۰ ماده) په جرم محکوم شو او د ښاغلي حاجي صدیق الله د مړینې په تړاو په ۱۶ کاله بند محکوم شو پرته له دې چې د مجازاتو د تعلیق احتمال شتون ولري. د غزنی ولایت د ملي پولیسو د امنیه قومندان معاون، د نظامي څارنوال لخوا د شکنجې په ارتکاب کې د مرسته کولو په تړاو ګرم وپېژندل شو. مګر، د هغه قضیه لاهم تر دوران لاندې ده او هغه د خپل رسمي دندې تر سره کولو ته دوام ورکوي.

## د پکتیکا ولایت، د ۲۰۲۰ کال د مارچ میاشت

د ۲۰۲۰ کال د مارچ په ۸ مه، ښاغلي محمد غوث د عمر زوی، ۱۷ کلن زده کونکی، د پکتیکا ولایت په متاخان ولسوالۍ کې د ملي پولیسو د قوماندان لخوا نیول شوی وو. د نیول کیدو نه وروسته، ښاغلي غوث په متاخان ولسوالۍ کې د ملي پولیسو په حبس کې ونیول شو. د ملي پولیسو څلورو افسرانو د ښاغلي غوث څخه په هغه ځای کې پوښتنې ګرویږنې ترسره کړې چېرته چې د ملي پولیسو قوماندان ښاغلي غوث يې وهلی او ډبولې و. وروسته له هغې، د ملي پولیسو قوماندان یوازې د ښاغلي غوث سره پاتې شو. سبا سهار، یو نوکریوال افسر د ښاغلي غوث مړی په توقیف خونه کې وموند.

د پکتیکا د ملي پولیسو د داخلي استخباراتو ریاست په پیل کې دا قضیه وپلټله او د نورو تحقیقاتو لپاره يې نظامي څارنوالۍ ته راجع کړه. نظامي څارنوال د ملي پولیسو قوماندان د شکنجې په جرم تورن کړ (د جزا کوډ، ۴۵۰ او ۴۵۱ مادې او ۵ نور نوکریوال پولیس يې د وظیفوي غفلت په تور تورن کړل (د جزا کوډ، ۱ ضمیمه، د ۱۷ مادې ۲ فقره). د ۲۰۲۰کال د مۍ په ۳، ابتدائیه محکمې د ملي پولیسو قوماندان په ۲۱ کلن بند محکوم کړ. لکه څنګه چې د ښاغلي غوث پروړاندې د شکنجې کړنه د هغه د مرګ لامل وګرځید، د ملي پولیسو قوماندان د جزا د کوډ د ۵۴۷ (۱) [۳] مادې پراساس "قتل د شکنجې سره" په سزا محکوم شو. د ملي پولیسو پنځه نور افسران هر یو د وظیفوي غفلت له کبله په شپږو میاشتو حبس محکوم شول.

s

## ۷. سپارښتنې

یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د افغانستان دولت د پرلپسې هڅو څخه هرکلی کوي چې د آزادۍ څخه محروم شویو ټولو اشخاصو لپاره د شکنجې او ناوړه چلند مخه نیسي. د امنیت یا تروریزم اړوند جرمونو په تړاو د آزادۍ څخه محروم شویو اشخاصو سره د یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر مرکو موندلې چې حکومت هڅه کړې چې د ۲۰۱۹ او ۲۰۲۰ کلونو په اوږدو کې د داسې توقیف شویو سره د حکومت د کارکونوکو دشکنجې او ناوړه چلند کارولو ته رسیدګي وکړي. د یو شمیر هڅو سره سره، د دولتي چارواکو لخوا د شکنجې او ناوړه چلند کارول د پام وړ شتون لري او د دولت د مکلفیت پروړاندې د داسې چلند د مطلق ممنوعیت پرخلاف د دغې چارې ترسره کول جریان لري. د شکنجې او ناوړه چلند ختمول او د آزادۍ څخه محروم شویو اشخاصو سره چلند ښه کول به په جزایي عدلي سیستم او په عمومي ډول په افغانستان کې د قانون په حاکمیت باندې باور ډیر کړي.

فلهذا، یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د افغانستان دولت په کلکه هڅوي چې د شکنجې له منځه وړلو په موخه خپلو هڅو ته دوام ورکړي او لاندې سپارښتنې پلي کړي.

### د ولسمشر دفتر ته

### د قانون حاکمیت عالي شورا ته

### د عدلیې وزارت ته

### پارلمان ته

۱. د جزایي اجراآتو په قانون کې تعدیل راوستل شي ترڅو دا مکلفیت رامنځته شي چې هر توقیف شوي شخص د ۴۸ ساعتونو په اوږدو کې محکمې ته راجع شي ترڅو لاندې موارد وڅیړي: (الف) د توقیف قانوني والی، (ب) د اضافي توقیف اړتیا، او (ج) د نیونې په جریان کې او وروسته په توقیف کې هر ډول ناوړه چلند. ژنې کې د ۲۴ ساعتونو په اوږدو کې باید محکمې ته راجع شي.

۲. د جزایي اجراآتو په قانون کې تعدیل راوستل شي ترڅو د مظنون څخه د اظهاراتو ترلاسه کولو په اړه کشفي ارګانونو ته روښانه لارښود منځته راوړي. پدغه لارښود کې باید د برائت الذمه له اصل څخه پیروي وشي او اړوند موظفین مکلف شي چې مخکې له دې چې د مظنونینو څخه اظهارات واخلي، د حق السکوت، برائت الذمه، د ځان پروړاندې د نه شاهدې حق  او د حقوقي مرستې حق پشمول، هغوی ته حقونه یې تشریح کړي.

۳. د عسکري جزایي اجراآتو په قانون کې سمون راوستل شي ترڅو  د عسکري جزایي اجراآتو قانون پر ځای، د جزایي اجراآتو قانون پلي شي کله چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو منسوب د جزاکوډ د ۴۵۰ مادې له مخې د شکنجې په جرم تورن وي.

۴. د لاندې کړنو د ترسره کولو له لارې د جزایي اجراآتو د قانون لمړې ضمیمه تعدیل شي ترڅو په بشپړ ډول د بشری حقونو له قانون سره مطابقت پیدا کړي: (الف) به صریح ډول ژنکیو باندې د لومړې ضمیمه پلې کول مستثنی وګرځول شي پرته له دې چې دوی د هرډول جرم په ارتکاب باندې مظنون پیژندل شوي اوسي او داډ ترلاسه شي چې یوازې هغه قواعد پلي شي چې پر ژنکیو د تطبیق وړ دي او (ب) د جزایي اجراآتو د قانون لومړی ضمیمه په هغه ځایونو کې پلې شي چیرې چې جرم پیښ شوی یا مظنون نیول شوی دی، تر څو مدارکو ته د لاسرسی آسانه شي او محاکمه ګړندي کړای شي.

۵. د شکنجې ضد قانون څخه هرډول خنډونه لیرې شي لکه د خسارې جبران لپاره د شکنجې پر قربانیانو د شواهدو او مدارکو د وړاندې کولو دروند بار.

۶. د لاندې کړنو په ترسره کولو له لارې د پولیسو په قانون کې تعدیل راشي: (الف) هغه اشخاص مکلف کول چې په پوښتنو ګرویږنو کې ښکېل دي ترڅو د مظنونینو هوساینې او حقونو د تامینولو څخه ډاډ ترلاسه شي او هغوي وشي کولای چې هر ډول ناوړه چلند یا عمل و ننګوي؛ او (ب) د نامناسب چلند او عمل نه راپور ورکول د انضباطي جرم په توګه وګڼل شي

۷. د PEACE مصاحبې د موډل[69] په شمول، د قانون پلي کونکو ټولو ادارو لپاره د غیر قهری (نه ډارونکي) پوښتنو ګرویږنو په اړه لارښودونه غوره شي.

---

[69] د PEACE موډل، چې په اصل کې په انګلستان کې رامنځته شوی، اوس په نړیواله کچه یو موډل دی چې د بشری حقونو مطابقت کونکي په توګه پیژندل شوی او د ښې معلوماتو په ترلاسه کولو کې اغیزمن هم دی. د یادې اصطلاح بشپړ ډول دا دې: پلان / چمتووالی، بوختیا / توضیحات، حساب، بندول، او ارزیابي.

۸. د اجباري ورکيدنې څخه د ټولو افرادو د ساتنې په اړه نړيوال کنوانسيون ته غړيتوب په پام کې ونيسي.

۹. د اعدامونو د تنفيذ لپاره يوه سملاسي مهلت رامنځته کول په پام کې ونيسي، چې هدف يې د ټولو جرمونو لپاره د مرګ سزا له مينځه وړل وي؛ او د مرګ د مجازاتو په ټولو قضيو کې د تخفيف پيشبينی کول په پام کې ونيسي.

۱۰. د شکنجې د منع کنوانسيون د الحاقي پروتوکول له مخې د افغانستان د مکلفيتونو سره سم له موجوده ادارو سره د موثرې همغږۍ او کافي سرچينو په درلودلو سره د يوه خپلواک او بې طرفه مخه نيوونکي ميکانيزم رامنځته کول په پام کې نيول چې د نورو دندو ترڅنګ له توقيف ځايونو څخه د ليدنې صلاحيت ولري.

## سترې محکمې ته

۱. قاضيانو ته واضح لارښوونې صادر کړي ترڅو دا ډاډ ترلاسه شي چې په محکمه کې د مدافع عليه هر ډول بيان د هغه په بشپړ رضايت او پوهاوي سره ورکړل شي، او ډاډ ترلاسه شي چې اجباری يا نور غيرقانوني لاسته راغلي بيانونه د محاکمې په جريان کې، په هيڅ حالت کې، د شواهدو او مدارکو په توګه نه منل کيږي.

۲. ډاډ ترلاسه کړي چې د اجباري بيان ورکولو په اړه د شکنجې او ناوړه چلند هر ډول تورونه په بشپړ ډول وڅېړل شي، حتی که چيرې طبي اسناد سمدلاسه شتون ونلري او د شکنجې او ناوړه چلند عاملين مسؤل وګڼل شي.

۳. قاضيانو ته واضح لارښوونې صادر شي ترڅو د متهمينو په مجازات کولو کې په اعترافاتو تکيه کمه کړي او له تحقيقاتي مراجعيو څخه د مثبته يا تکميلي مدارکو غوښتل الزامي کړي.

## لويې څارنوالۍ ته

۱. د څارنوالانو لپاره د غير قهري پوښتنو تخنيکونو لپاره روزنې زياتې کړي او د مظنون د بيان اخيستلو لپاره پر کشفي ارګانونو اتکا کمه کړي.

۲. ډاډ ترلاسه کړي چې د مظنونينو او متهمينو حقونو په اړه د جزايي اجزآتو قانون ۸مه ماده په مؤثره توګه پلي شي او د دې مادې پر اساس، محضر ته عامه لاسرسی الزامي شي.

## د کورنيو چارو وزارت ته

۱. ډاډ ترلاسه کړي چې د لومړيو پوښتنو ګرويرنو څخه دمخه، ټول مظنونين له خپلو حقونو څخه خبر کړای شي او لازم تدابير ورته برابر شي ترڅو د مدافع وکيل په ترلاسه کولو باندې قادر شي.

۲. د ټولو افسرانو لپاره د لارښود کتاب چمتو کړي چې له مخې يې، د PEACE پوښتنې موډل د پلي کولو پشمول، پوښتنې ګرويرنې په غير قهري ډول ترسره کړي.

۳. د هغو افسرانو لپاره انضباطي تدبيرونو رامنځته کړي څوک چې د قوانينو څخه سرغړونې کوې په کوم کې چې د پوښتنو ګرويرنو لپاره د مشخصو معيارونو رعايت درج شوي دي.

۴. د PEACE پوښتنې موډل پشمول، د غيرقهري مرکه کولو تخنيکونو په اړه د روزنې رامنځته کول په پام کې ونيسي، پدې هدف چې ياده روزنه د ملي پوليسو افسرانو لپاره په منظم نصاب کې درج کولو لازمي کړای شي.

۵. د اړونده روزنې نه وروسته د پوښتنې ګرويرنې په برخه کې د عملياتي قابليتونو د ارزونې جاري سيستم رامنځته کړي، د عملياتي معيارونو سره په مطابقت کې د ټولو مستنطقينو د کلنۍ کاري ځای د ارزونې پشمول.

۶. ډاډ ترلاسه کړي چې د جزايي اجراآتو د قانون ۱۵۷مې مادې سره سم، چې هر شخص د پوښتنو ګرويرنو پرمهال مخکې له دې چې بيان لاسليک کړي د هغه په محتوياتو پوه شوی وي.

۷. لږترلږه يو دايمي طبي کارمند د ولايت په کچه د پوليسو ټولو توقيف ځايونو ته واستوي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې توقيف ځای ته استول شوی هر شخص د لومړۍ پوښتنې ګرويرنې دمخه، د بدني معاينې پشمول، طبي معاينات ترلاسه کړي وي.

۸. د ملي پوليسو په ټولو توقيف ځايونو کې د تليفونونو د شتون څخه ډاډ ترلاسه کړي چې د آزادۍ څخه محروم شويو اشخاصو لخوا په وړيا ډول وکارول شي ترڅو خپلو کورنيو او وکيلانو سره په خصوصي توګه اړيکه ونيسي.

۹. د کورنیو چارو وزارت د بشري حقونو د افسرانو د استخدام طرزالعمل او د راپور ورکولو مکلفیت اصلاح شي ترڅو دوی د کورنیو چارو وزارت مرکزي دفترونو لخوا استخدام شي او په کابل کې د کورنیو چارو وزارت د جنډر، ژنکیو حقونو او بشري حقونو ریاست ته راپور ورکړي، نه د ولایت د پولیسو امنیه قومندان ته.

## د ملي امنیت ریاست ته

۱. سمدستي د انفرادي او تجریدي توقیف ترسره کول ودروي.

۲. د ژنکیو توقیفول وارزول او ودرول شي. کله چې د یو شخص د عمر په اړه ناڅرګندتیا شتون ولري، هغه شخص باید د ژنکیو د اصلاح و تربیت په مرکزونو کې وساتل شي تر هغه چې د هغه د عمر ارزونه د نړیوالو معیارونو سره سم ترسره شوي نه وي.

۳. لکه څنګه چې د جزایي اجراآتو قانون په ۷ (۴) ماده کې تصریح شوي، داډ ترلاسه شي چې د ملي امنیت توقیف ځایونو کې د نیول شوي اشخاصو کورنۍ یا خپلوان د نیول کیدو پر مهال د هغو د ځای په اړه خبر شي.

۴. د اساسی قانون ۳۱ مادې سره سم، داډ ترلاسه کړي چې د لومړیو پوښتنو ګرویږنو څخه دمخه، ټول مظنونین له خپلو حقونو څخه خبر کړای شي او لازم تدابیر ورته برابر شي ترڅو د مدافع وکیل په ترلاسه کولو باندې قادر شي.

۵. داډ ترلاسه کړي چې د جزایي اجراآتو د قانون ۱۵۷ مادې سره سم، چې هر شخص د پوښتنو ګرویږنو پرمهال د بیان په محتویاتو پوه شي مخکې له دې چې هغه لاسلیک کړي.

۶. د ټولو افسرانو لپاره د لارښود کتاب چمتو کړي چې له مخې یې ، د PEACE پوښتنې موډل د پلي کولو پشمول، پوښتنې ګرویږنې په غیر قهري ډول ترسره کړي.

۷. د هغو افسرانو لپاره انضباطي تدبیرونو رامنځته کړي څوک چې د قوانینو څخه سرغړونې کوي په کوم کې چې د پوښتنو ګرویږنو لپاره د مشخصو معیارونو رعایت درج شوي دي او داډ ترلاسه کړي چې د شکنجې او ناوړه چلند د ممنوعیت څخه هر ډول سرغړونه، څارنوالی ته راجع کیږي.

۸. د اروندي روزنې څخه وروسته د پوښتنې په برخه کې د عملیاتي قابلیتونو د ارزونې جاري سیستم رامنځته کړئ، د عملیاتي معیارونو سره په مطابقت کې د ټولو مستنطقینو د کلنۍ کاري ځای د ارزونې پشمول.

۹. لږترلږه یو دایمي طبي کارمند د ولایت په کچه د ملي امنیت ټولو توقیف ځایونو ته واستوي ترڅو داډ ترلاسه شي چې توقیف ځای ته استول شوی هر شخص د لومړې پوښتنې ګرویږنې څخه د مخه، د بدني معاینې پشمول، طبي معاینات ترسره کړي وي.

۱۰. د ملي امنیت په ټولو توقیف ځایونو کې د تلیفونونو د شتون څخه داډ ترلاسه کړي چې د آزادۍ څخه محروم شویو اشخاصو لخوا په وړیا ډول وکارول شي ترڅو خپلو کورنیو او وکیلانو سره په خصوصي توګه اړیکه ونیسي.

## د دفاع وزارت ته

۱. داډ ترلاسه کړي چې مدافع وکیلان وکولای شي د اونۍ په هره ورځ د رسمي ساعتونو په اوږدو کې د پروان په توقیف ځای کې د خپلو موکلینو سره وګوري.

۳. داډ ترلاسه کړي چې د پروان توقیف ځای اضافي خونې ولري چیرې چې د آزادۍ څخه محروم شوي اشخاص او د دوی مدافع وکیلان وکولای شي چې په خونډي ډول سره وګوري.

۴. د ذهني ناروغۍ او / یا معلولیت لرونکي افرادو په حبس باندې بیاکتنه وکړي او د هغوی د خوشې کیدو یا د جزا کوډ د ۱۸۷ او ۱۸۸ مادو سره سم، روغتیایي انستیټیوټ ته د رواني ناروغ لیږدولو لپاره ګزینې راوسپړي.

## د زندانونو د چارو اداري ته

۱. داډ ترلاسه کړي چې مدافع وکیلان وکولای شي د اونۍ په هره ورځ د رسمي ساعتونو په اوږدو کې په محبسونو او د ژنکیو د اصلاح او تربیت په مرکزونو کې د خپلو موکلینو سره وګوري.

۲. داډ ترلاسه کړي چې هر محبس او د ژنکیو د اصلاح و تربیت مرکز اضافي خونې ولري چې له آزادۍ محروم شوي اشخاص او ژنکي او د هغوی د مدافع وکیلانو تر منځ په خونډي ډول خصوصي ناستې ته زمینه برابره کړي.

۳. ډاډ ترلاسه کړي چې هر محبس او د ژړکیو د اصلاح او تربیت مرکزونه تلیفونونه ولري چې له آزادۍ څخه محروم شوي اشخاص او ژړکې وکولای شي د خپلو مدافع وکیلانو او کورنیو لپاره یاد تلیفون د تماس نیولو لپاره په وړیا وکاروي.

## د عدلیې وزارت ته

۱. د حقوقي مساعدینو شمیر ډیر کړي ترڅو په توقیف ځایونو کې هر شخص د کشف ارګانونو لخوا د دوی د ابتدایي مرکو دمخه وکیلانو ته په وخت سره لاسرسی ولري.

## لومړۍ ضمیمه: د نړیوال قانون له مخې د شکنجې او ظالمانه، غیر انسانې یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا د نورو شکلونو ممنوعیت

ګڼ شمیر نړیوال تړونونه چې افغانستان یې غړیتوب لري، شکنجه او نور ظالمانه، غیرانساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا منع کوي. په دې کې د شکنجې د منع کنوانسیون، د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال کنوانسیون، د جینوا د ۱۹۹۴ کنوانسیونونه، د نړیوالې جزایې محکمې د روم اساسنامه او د ژنیکیو د حقوقو کنوانسیون شامل دي[70]. د دولت د مکلفیت د دغو ډول کړنو د ممنوعیت رعایت د فسخ کولو وړ نه دی، په دې مانا چې دا هیڅکله د توجیه وړ نه ده چې د شکنجې ممنوعیت تعلیق شي یا یې په رعایت کولو کې پاتې راشي[71].

### الف. د شکنجې او ناوړه چلند د نورو ډولونو تعریف

د شکنجې د منعې کنوانسیون پراساس د شکنجې تعریف په اوسني فعالیت کې تر ټولو زیات ذکر شوي او باصلاحیته تعریف دی:

د دې کنوانسیون په نظر شکنجه داسې تعریفیږي: هر قصدي عمل چې له عمله یې فرد او یا د دریيم شخص څخه د معلوماتو د ترلاسه کولو یا د اقرار د اخیستلو په منظور د هغه پر خلاف سخت جسمي یا روحي درد یا کړاو عملي کیږي، شکنجه نومیږي. (دغه راز) فردي مجازات د داسې عمل په توګه چې هغه یا دریيم شخص ترسره کړې دی یا شایي چې ترسره یې کړي، په ګواښ او اجبار سره او د هر ډول تبعیض پر بنسټ چې د دغه درد او کړاو وارديدل او یا په تحریک او ترغیب سره او د دولتي مامور او یا د بل هرمقام د خاوند په رضات او نه مخالف سره ترسره شي، شکنجه بلل کیږي. په دغه تعریف کې هغه شکنجه او ځورونه نه شامليږي کوم چې له قانوني او یا تصادفي تعزیراتو څخه رامنځته کیږي[72]."

په دغه تعریف کې څلور عنصرونه شامل دي:

(۱) د شدید درد یا کړاو اړول؛

(۲) قصد؛

(۳) هدف ( لکه د معلومات یا اعتراف ترلاسه کول، سزا، تهدید؛ اکراه او اجبار یا تبعیض)[73]؛ او

(۴) د دولتي چارواکو یا دبل هر شخص شکیلتیا چې په دولتي ظرفیت/چوکاټ کې فعالیت کوي.

ظالمانه، غیرانساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا (" ناوړه چلند") همدارنګه حقوقي اصطلاح ګاڼې دي چې هغه چلند ته راجع کیږي چې مختلفې اندازې کړاونه اړوي کوم چې نه باید د یوه مشخص هدف لپاره واړول شي[74]. د ناوړه چلند د مخنيوي مکلفیت په عمل کې تر ډیره د شکنجې د مخنيوی له مکلفیت سره تړاو لري. تجربه په ډاګه کوي، هغه حالت چې ناوړه چلند راولاړوي په مکرر ډول شکنجې ته لار هواروي، او له همدې امله اړوند تدابیر باید تطبیق شي څو د دغه ډول هر چلند مخنیوی وشي[75].

---

[70] افغان حکومت د شکنجې او نورو ظالمانه، غیرانساني او له سپکاوي ډک چلند یا سزا د منعې کنوانسیون د ۱۹۸۷ په جون کې، د یاد کنوانسیون اختیاری پروتوکول د ۲۰۱۸ په اپریل کې، د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال کنوانسیون د ۱۹۹۳ په اپریل کې، د جینوا کنوانسیونونه د ۱۹۵۶ په سپټمبر (د دوو الحاقي پروتوکولونو په استثنا سره)، او د ژنیکیو د حقوقو کنوانسیون په ۱۹۹۴ کې تصویب کړل. د نړیوالې جزایې محکمې د روم اساسنامه، چې د افغانستان له خوا د ۲۰۰۳ په فبروري کې تصویب شوې، په ډاګه کوي چې په غیر نړیواله وسله واله جګړه کې شکنجه په لاندې حالاتو ې جنګې جرمونه تشکیلوي: " د نړیوال خاصیت نه درلودونکې د وسله واله جګړې په قضیه کې، د ۱۹۴۹ د اګست په ۲مه د چینوا څلورو کنوانسیونونو له دریيمې مشترکې مادې څخه په سرغړونو کې لاندې موارد شامليږي، د هغو اشخاصو په ضد د [...] شکنجه [...] کړنو ترسره کول چې په جګړو/خصومتونو کې په فعال ډول برخه نه اخلي، د وسله والو ځواکونو د هغو غړو په ګډون چې وسله یې پر ځمکه ایښي وي او هغه اشخاص چې د ناروغۍ، ټپونو، توقیف یا بل کوم دلیل له امله له جګړې لویدلي وي " (۸)(۲)(ج)(ه) ماده. په غیر نړیواله وسله واله جګړه کې د شکنجې د جنګې جرم عنصرونه دا دي، چې مرتکب یو شخص ته سخت فزیکي یا رواني درد یا کړاو واړوي؛ چې مرتکب دغه کار د دغو موخو لپاره کړی وي، لکه د معلوماتو یا اعتراف ترلاسه کول، سزا، تهدید، اجبار او اکراه یا د هر بل کوم دلیل لپاره چې پرتبعیض ولاړ وي؛ او هغه شخص چې شکنجه شوي له جګړې لویدلی شخص، ملکي وګړې، طبي پرسونل یا مذهبي شخص وي چې په جګړه او خصومتونو کې په فعال ډول برخه نه اخلي؛ دا چې مرتکب له هغو واقعي حالاتو خبر وي چې دغه وضعیت یې رامنځ ته کړي؛ دا چې ترسره شوي عمل په داسې زمینه کې رامنځ ته شوي چې له وسله والې جګړې سره تړاو لري کومه چې د نړیوال خاصیت درلودونکې نه ده؛ او دا چې مرتکب له هغو واقعي حالاتو خبر وي د وسله والې جګړې شتون یې رامنځ ته کړی وي".

[71] د مدني او سیاسي حقوقو د نړیوال کنوانسیون ۴ (۲) ماده؛ د شکنجې د منعې کنوانسیون ۲ (۲) ماده.

[72] د شکنجې د منعې کنوانسیون ۱ ماده.

[73] د شکنجې د منې کمیټه تصریح کوي چې " د قصد او هدف {...]عنصرونه د مرتکبینو د لمسونو ذهني پلټنه نه رانغاړي، بلکې پرځای یې باید ترحالاتو لاندې واقعې تصمیمونه وي" ؛ د شکنجې د منعې کمیټه، ۲مه شمیره عمومي تبصره ( د غړو هیوادونو له خوا د ۲مې مادې تطبیق)، د ۲۰۰۸ د جنوري ۲۴ CAT/C/GC/2، ۹ پاراګراف.

[74]د شکنجې ضد کمیټهو ۲مه عمومي تبصره، هماغه، ۱۰ پاراګراف، ټیپینا، پولونا، د شکنجې د راپوروکولو لارښود کتاب، دویم چاپ، (د بشري حقونو مرکز، د ایسیکس پوهنتون، ۲۰۱۵، ۲۳ مخ.) دغه کتاب په دغه لینک کې په آنلاین بڼه شتون لري

www1.essex.ac.uk/hrc/documents/practice/torture-reporting-handbook-second-edition.pdf

[75] د شکنجې د منعې کمیټه، ۲مه عمومي تبصره، ۹ پاراګراف.

### ب. د نړیوال قانون پر اساس، د شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوي په موخه د دولت مکلفیتونه

د شکنجې او ناوړه چلند مطلق ممنوعیت له دولتونو د مثبتو تدابیرو – قانوني، اداري، قضایي او نور اقداماتو – د ترسره کولو غوښتنه کوي ترڅو یقیني کړي چې دغه ډول عمل او د هغوی د بیا پیښیدلو په موثر ډول مخه نیول شوې[76]. د شکنجې د منع کنوانسیون په څرګنده د یو شمیر تدابیرو غوښتنه کوي، د لاندې هغو په ګډون:

- جرم ګڼل: څو یقیني کړي چې د دولت د جزا تر قانون لاندې د شکنجې ټولې کړنې جرمونه ګڼل کیږي، کوم چې باید د مناسبو زاګانو له لارې د مجازاتو وړ وي، چې د هغوی شدید ماهیت په پام کې نیسي.
- خیړنې او قرباني شکایتونه : څو څټګې او بې پرې خیړنه ترسره کړي، چیرې چې ددې معقول دلیل شتون ولري څو د دې باور وشي چې د شکنجې کړنه ترسره شوې؛ دا یقیني کړي چې هر شخص د دې حق لري چې صلاحیت لرونکو چارواکو ته شکایت وکړي؛ او شکایت کوونکي او شاهدان له ګچ یا تهدید څخه خوندي وساتي.
- روزنه: د شکنجې د ممنوعیت په اړه ټولو هغو اشخاصو ته خبر او روزنه ورکړي څوک چې شایي په نظارت، پوښتنو ګرویرنو یا د هر انفرادي توقیفي سره په چلند کې ښکیل وي.
- قواعد، لارښوونې، طرزالعملونه: د شکنجې منع (ممنوعیت) هغو اشخاصو ته په صادر شویو قواعدو او لارښوونو کې شامل کړېو څوک چې په نظارت، پوښتنو ګرویرنو یا له توقیفیانو سره په چلند کې ښکیل وي، او اړوند قواعد تر سیستماتیکې بیاکتنې لاندې وساتي.
- د خسارې جبران: دا یقیني کړي چې د شکنجې د کړنې قرباني د جسارې جبران ترلاسه کوي او عادلانه او مناسب جبران ته د نافذیدو وړ حق لري، تر ممکنه حد پورې د بشپړې رغیدنې د وسیلو په ګډون.
- د بطلان قاعده: دا یقیني کړي چې هر هغه بیان چې د شکنجې سره مخ کیدو په پایله کې ورکړل شوی وي په اجراآتو کې د شواهدو په څیر و نه ګڼل شي، په استثنا د هغه چا په وړاندې چې هغه په شکنجې تورن وي او دا بیان د ثبوت په توګه وړاندې کړل شي.

سربیره پر دې، د بشري حقونو نړیوال قانون له آزادۍ څخه د محروم شویو اشخاصو لپاره قانوني او اجراآتي محافظتونه وضع کوي چې د شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوي لپاره د هر ساتندوي چوکاټ داخلي برخه ګڼل کیږي. په دغو محافظتونو کې لاندې حقونه شامل دي:

- د دوي تر نیوې وروسته د هغوي کورنۍ غړي یا دریم لوري ته د هغوي د ځای ځایګي په اړه خبر[77]؛
- د خپلې دفاع لپاره چټکه خپلواکه حقوقي مرسته او کافي وخت او اسانتیاوې ترلاسه کوي[78]؛
- طبي ډاکټر، که شوني وي د خپلې خوښې هغه ته چټک او منظم لاس رسی لري[79]؛
- د نیونې د لاملونو او جرمي تورونو په اړه خبر شوي[80]؛
- تر هغې چې د قانون سره سم مجرم نه وي ثابت شوي بې ګناه ګڼل کیږي او نه باید د خپل ځان په ضد اقرار یا ناسم اعتراف ته اړ کړای شي[81]؛
- په مناسبه زماني موده کې د قاضي/محکمې په وړاندې احضار کړای شي[82]؛
- د خپل توقیف او چلند قانونیت وننګوي (محکمې ته د احضاریدو حق)[83]؛
- له خپل سري یا ناقانونه نیونې یا توقیف سره نه وي مخ شوي[84]؛ او
- د دغه حقونو په اړه په هغه ژبه پوه شوي وي چې هغوی ته د پوهیدو وړ وي[85].

نور هغه کلیدي تدابیر چې د شکنجې او ناوړه چلند په مخنیوي کې مرسته کوي، د نورو په ګډون، د توقیف ځایونو د څارنې او لیدنې بې پرې میکانیزمونه؛ د ګچ له کومې ویرې پرته د راپور ورکولو میکانیزمونه؛ او د ثبت ساتل رانغاړي[86].

---

76 د شکنجې د منعې کنوانسیون، ۲ او ۱۶ مادې.
77 د نیلسن منډیلا قواعد، ۶۸مه قاعده.
78 د مدنې او سیاي حقونو د نړیوال کنوانسیون ۱۴(۳) ماده؛ دغه راز، د بشري حقونو د کمیټې ۳۲مه عمومي تبصره وګورئ
79 د نیلسن منډیلا قواعد، ۳۰، ۳۴، ۱۱۸ قاعدې؛ د روغتیا پالنې خدمتونو په اړه ۲۴ او نور عمومي قواعد وګورئ.
80 د مدنې او سیاي حقونو د نړیوال کنوانسیون ۹ (۲) او ۱۴(۳) مادې
81 هماغه، ۱۴ (۲) او (۳) ماده
82 هماغه، ۹ (۳) ماده
83 هماغه، ۹ (۴) ماده
84 هماغه، ۹ (۱) ماده
85 د نیلسن منډیلا قواعد، ۵۳.۵۵ قاعدې.
86 هماغه، د محبوسینو د دوسیو د تنظیمولو ؛ محبوسینو ته معلومات و د هغوی لخوا شکایت؛ او داخلې او خارجې تفتیش او بررسی په اړه اړوندې قاعدې وګورئ

# مرکزي حوزه

## د ملي امنيت د ولايت او ولسوالۍ په کچه مرکزونو ګډ معلومات

دا جدولونه د يوناما د توقيف څخه د نظارت د موندنو لنډيز د 1 جنوري 2019 او 30 مارچ 2020 ترمينځ وړاندې کوي. يوناما په توقيف ځايونو کې د توقيف او چلند بيلګې، د توقيفيانو سره د محرمو او داوطلبه مرکو له لارې، مستند کړې. سيمه هغه سيمې/ولايتونه په ګوته کوي چې د يوناما د ساحوي دفترونو تر پوښښ لاندې دي. دا د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت رسمي اداري واحدونه نه دي.

* کارورۍ نه دی (N/A) د هغو مرکزونو لپاره د سلنې په بدل کې کارول کيږي چيرې چې يوناما ونشو کولای د توقيف کومې پيښې ثبت کړي.



| د ملي امنيت د ولايت او ولسوالۍ په کچه مرکزونه (ګډ معلومات) | د توقيف د بيلګو شمېر | د شکنجې او ناوړه چلند د معتبرو تورونو شمېر | % | د هغو بيلګو شمېر چيرې چې توقيفيان د ملي امنيت د بشري حقونو د افسر لخوا ليدل شوي | % |
|---|---|---|---|---|---|
| کابل | 20 | 2 | 10 % | 7 | 35 % |
| کاپيسا | 7 | 1 | 14.3 % | 2 | 28.6 % |
| لوګر | 3* | - | - | - | - |
| پنجشير | 0 | - | - | - | - |
| پروان | 13 | 2 | 15.4 % | 7 | 53.8 % |
| وردګ | 2* | - | - | - | - |
| **ټوله سيمه** | **45** | **5** | **11.1 %** | **16** | **35.6 %** |
| **په ټول هيواد کې** | 725 | 116 | **16 %** | **216** | **29.7 %** |

| د ملي امنيت د ولايت او ولسوالۍ په کچه مرکزونه (ګډ معلومات) | د توقيف د بيلګو شمېر | د هغو بيلګو شمېر چيرې چې توقيفيانو د پوښتنو دمخه وکيل ترلاسه کړی | | د هغو بيلګو شمېر چيرې چې توقيفيانو، د توقيف په وخت کې، وکيل ترلاسه کړی | | د هغو بيلګو شمېر چيرې چې توقيفيانو د خپلو کورنيو سره اړيکه نيولې ده | | د هغو بيلګو شمېر چيرې چې توقيفيانو، د محتوياتو د پوهيدو پرته، اسناد لاسليک کړي | | د هغو بيلګو شمېر چيرې چې توقيفيانو ته د خپلو حقونو په اړه معلومات ورکړل شوي | | د هغو بيلګو شمېر چيرې چې د توقيفيانو د بدن معاينه د پوښتنو د مخه ترسره شوي | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | # | % | # | % | # | % | # | % | # | % | # | % |
| کابل | 20 | 0 | 0 % | 0 | 0 % | 1 | 5 % | 5 | 25 % | 2 | 10 % | 4 | 20 % |
| کاپيسا | 7 | 1 | 14.3 % | 1 | 14.3 % | 2 | 28.6 % | 3 | 42.9 % | 2 | 28.6 % | 0 | 0 |
| لوګر | 3* | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - |
| پنجشير | 0 | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - |
| پروان | 13 | 0 | 0 % | 4 | 30.8 % | 1 | 7.7 % | 4 | 30.8 % | 6 | 46.2 % | 3 | 23.1 % |
| وردګ | 2* | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - |
| **ټوله سيمه** | **45** | 1 | 2.2 % | 5 | 11.1 % | 5 | 11.1 % | 13 | 28.9 % | 10 | 22.2 % | 7 | 15.6 % |
| **په ټول هيواد کې** | **725** | **5** | **0.7 %** | **83** | **11.4 %** | **143** | **19.7 %** | **356** | **49.1 %** | **92** | **12.7 %** | **64** | **8.8 %** |

*کله چې د توقيف ثبت شوي بيلګې له 3 څخه لږ وي، نو موندنې د مرکو د راز پټ ساتلو په خاطر نه په ګوته کيږي.

# مرکزي حوزه

## د ملي پولیسو د ولایت او ولسوالۍ په کچه مرکزونو ګډ معلومات



دا جدولونه د یوناما د توقیف څخه د نظارت د موندنو لنډیز د 1 جنوري 2019 او 30 مارچ 2020 ترمینځ وړاندې کوي. یوناما په توقیف ځایونو کې د توقیف او چلند بیلګې، د توقیفیانو سره د محرمو او داوطلبه مرکو له لارې، مستند کړي. سیمه هغه سیمې/ولایتونه په ګوته کوي چې د یوناما د ساحوي دفترونو تر پوښښ لاندي دي. دا د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت رسمي اداري واحدونه نه دي.

* کاروړی نه دی (*N/A*) د هغو مرکزونو لپاره د سلنې په بدل کې کارول کېږي چیرې چې یوناما ونشو کولای د توقیف کومې پیښې ثبت کړي.

| د ملي پولیسو د ولایت او ولسوالۍ په کچه مرکزونه (ګډ معلومات) | د توقیف د بیلګو شمېر | د شکنجې او ناوړه چلند د معتبرو تورونو شمېر | % | د هغو بیلګو شمېر چیرې چې توقیفیان د ملي پولیسو د بشري حقونو د افسر لخوا لیدل شوي | % |
|---|---|---|---|---|---|
| کابل | 2 | - | - | - | - |
| کاپیسا | 3 | - | - | - | - |
| لوګر | 1 | - | - | - | - |
| پنجشیر | 0 | - | - | - | - |
| پروان | 6 | 2 | 33.3 % | 0 | 0 % |
| وردګ | 0 | - | - | - | - |
| **ټوله سیمه** | 12 | 2 | 16.7 % | **0** | **0 %** |
| **په ټول هیواد کې** | **335** | **92** | **27.5 %** | **10** | **3.0 %** |

